عبد المنان ملکری

شریک بالا پوش

(طنزونه)

۱۶

شریک بالاپوش

(طنزونه)

عبد المنان ملکری

۱۳۷۸ل. وری

بسم الله الرحمن الرحیم

کتاب پېژندنه:

نوم	:	شریك بالاپوش
لیکوال	:	عبد المنان ملګری
خپرندوی	:	ناهید کتاب خپرولو موسسه
مهتمم	:	پیر محمد کاروان
کمپوز/ډیزاین	:	اپشیاسفت، پېښور پښتونخوا
کپوزر	:	حفیظ الله
د پښتی طرح	:	استاد حسن پاوند
تیراژ	:	۱۰۰۰ توکه
د چاپ ځای	:	دانش کتابتون، ډکي نعلبندي پېښور
د چاپ کال	:	۱۹۹۹ع - ۱۳۷۸ وری

اهدا :

دخپل اروابنادپلارعلمي شخصيت،ديانت اوتقوی ته يې په
ډېرويارِاهداء کوم.

نیولیک

کنه سرلیک	مخکنه
۱- شریك بالاپوش	۱
۲- که بناروالي نه وای	۸
۳- هغه مړی چې ژوندی شو	۱۹
۴- ما غوښتل چې مدیر شم	۲۴
۵- زړو موټر	۲۹
۶- ما جایزې ته ځان کاندید کړی و	۳۵
۷- وایي که ښه وکړې ښه به ویني	۴۱
۸- حکام ته تګ هم یو هنر غواړي	۴۵
۹- ما ولې تقاعد وکړ	۵۲
۱۰- هم خره بندي کړئ هم خرکاران	۵۸
۱۱- بېګانه وزه	۶۲
۱۲- چې پیشو اصیله شي.	۶۷
۱۳- د کلي خرو څه غوښتل	۷۳
۱۴- ما هم ویل چې زوړ یم	۷۸

خبرې اوبرې

پنځه ویشت کاله وړاندې چې مادلومړي ځل لپاره په راډیو افغانستان کې دځلورمنې کوپون په اوړوشخوندووا هه ،له ملګري صیب سره مې پیژند ګلوي وشوه. هغه وخت زمابړیره اوبریت لانه ووراغلي ،خودده دبریتونواوسرویښته وریجې اومې وو. اونن چې دده په طنزونوباندې دیوې ماتې ګوډې لیکنې جرئت کوم نوزمابړیره سپینه ده اودملګري صیب بریتونه اودسرویښته هماغسې لاوریجې اومې دي. زه په دې خبره ورسره کومه رخه نه لرم اولاورته دلوی اوتواناخدای«ج»په دربارکې دوعاکوم چې تردیره همداسې تکړه اوپه ځان جوړوي. خودغه خبره مې ځکه وکړه چې ملګری صیب دژوندي زړه خاونددی اوظاهراًدهردول ستونزوپه مقابل کې لکه دغره هومره مقاومت لري.

په بيلابيلو څنوواورژيمونوکې يې بدې وړځې اوهغه غابنې چيچې چې دوخت جاکمانوبه ورته کول ،هم رايادوي. خودې ټولودی له پښووڼه غورځاوه،اوهغه منزل ته چې ده ځان ته غوره کړی دی ،په متينوقدمونوورروان دی.

ترڼنه يې په **هغه** قلم **گوتې** ونه ريږديدې چې دزور ،ظلم ،ټولنيزونابرابريو،**ناخوالو**اوبې عدالتيوپرسرلکه دتيرې تورې گوزارونه کوي. که له حق نه ستر**گې پټې** نه کړو ،نوملگری صيب دليکنې په ډگر« ارکاره »کې هغه پالوان دی **چې په** يوازې ځان بې دشعر ،درام ،داستان ،تياتر ،تلويزيوني نمايشنامو**اوله طنزسره** غيږورکړې ده ،اوپه دې ټولوغښتلی بريښي.

هغه څوک **چې** دشريک بالاپوش گريوان ته سرورښکاره کوي اودملگري صيب ددې بختور**بالاپوش** له برکتي جيبونوڅخه دخوږواومزه داروطنزونو مزه اخلي ، ضرور به **يې درادیو** ، تلويزيون ،سټيج او مطبوعاتو له لارې دده شعرونه ، درامی ، داستانونه**او طنزونه** اوريدلي ، ليدلي او لوستلي وي. خو زه دلته يوازې دده په طنزونو يو څو**تحميلي کړښې** ليکم. تحميلي مې ځکه وويل چې زه په خپله په خپل ځان کې دومره **توان نه** وينم چې دملگري صاحب په ليکنه دې څه شی وليکم، خو په خپله ده مجبور کړم چې: پاڅونه، ته به ضرور زما دبالاپوش له گريوان نه ماسره يوځای سر راباسې او يو څه به پرې ليکې.

که دملگري صاحب لحاظ اوخاطر نه وای، نو ما خپلو او توبوتو ته دليکنې جرئت

نه شو کولای، ځکه چې زه لا دطنز له نوم سره نه وم آشنا چې ده به طنزونه لیکل.
هغه وخت به ده دکاکا چپراسي په نوم رادیویي نندارې کې دنورو تمثیلي لیکنو تر څنګ داستاني (کیسه یي) طنزونه هم لیکل او هم به یې په خپل غږ درادیو له لارې اوریدونکو ته اورول. ما به چې کله دده طنزیه داستانونه او نورو اړه طنزونه اوریدل نوزړه کې به مې تیریدل چې کاشکې زه هم یوه ورځ قلم راواخلم او دغسې څه ولیکم.
مخکې تردې چې پروګرام خپور شي، ما به دثبت په وخت کې دده لیکنې اوریدلې وي اوهم به مې څوځو ځله په دفتر کې لوستلې وې. بیا به چې له خپلو دوستانو سره مخامخ شوم نو کیسې به مې ورته کولې چې په راتلونکې رادیویي نندارې کې ملګري صاحب دغسې یوه نندارې جوړه کړي ده.
دکاکا چپراسي دلیکنو سره زما همدا مینه وه چې پتې به مې دده لیکنې لوستلې او هماغه لیکنې زما استاذ دی. او بیا چې ملګری صاحب دخپلو لیکنو استاذ دی، نو په دې حساب زه دملګري صاحب دشاګردانو شاګرد یم. او یوه شاګرد ته به ډیره ګرانه وي چې دخپل استاذ په استاذي باندې نظر ورکړي.
خو ځینې وخت بنیادم ځنې مجبوریتونه اړباسي چې دغه سپین ستر ګي هم وکړي. اوس چې داجرئت په خپله ملګري صاحب راته راکړی دی، نو یو څه ضرور باید پرې ولیکم.

نه شو کولای، ځکه چې زه لا دطنز له نوم سره نه وم آشنا چې ده به طنزونه لیکل.
هغه وخت به ده دکاکا چپراسي په نوم رادیویي نندارې کې دنورو تمثیلي لیکنو تر څنګ داستاني (کیسه یي) طنزونه هم لیکل او هم به یې په خپل غږ درادیو له لارې اوریدونکو ته اورول. ما به چې کله دده طنزیه داستانونه او نورو اړه طنزونه اوریدل نوزړه کې به مې تیریدل چې کاشکې زه هم یوه ورځ قلم راواخلم او دغسې څه ولیکم.
مخکې تردې چې پروګرام خپور شي، ما به دثبت په وخت کې دده لیکنې اوریدلې وي اوهم به مې څوځو ځله په دفتر کې لوستلې وې. بیا به چې له خپلو دوستانو سره مخامخ شوم نوکیسې به مې ورته کولې چې په راتلونکې رادیویي نندارې کې ملګري صاحب دغسې یوه نندارې جوړه کړي ده.
دکاکا چپراسي دلیکنو سره زما همدا مینه وه چې پټې به مې دده لیکنې لوستلې او هماغه لیکنې زما استاذ دی. او بیا چې ملګری صاحب دخپلو لیکنو استاذ دی، نو په دې حساب زه دملګري صاحب دشاګردانو شاګردیم. او یوه شاګرد ته به ډیره ګرانه وي چې دخپل استاذ په استاذۍ باندې نظر ورکړي.
خو ځینې وخت بنیادم ځنې مجبوریتونه اړباسي چې دغه سپین سترګي هم وکړي. اوس چې داجرئت په خپله ملګري صاحب راته راکړی دی، نو یو څه ضرور باید پرې ولیکم.

نو راته غوږمئ!... اصله خبره داده چې څوک دچاپه ليکنه يو څه ليکي، نو هغه ليکنه له چاپ نه دمخه يو ځل لولي او بيا «مقدمه» وربانده چلوي، خو ملګرې صاحب په داسې وخت کې راباندې غږ وکړ چې طنزونه يې وختې لا دبلا پوش په جيبونو کې خوندي کړي وو او دکتاب په پښتې يې خپل سر دشريک بالا پوش له ګريوانه راويستلی و. زه په عجله کيناستم او همداسې (په پتو ستر ګو) مې دغه څو کرښې پر کاغذو کښلې.

نه پوهيږم چې کوم، کوم طنزونه يې پکې راټول کړي دي. خو داچې زه په دې پنځه ويشتو کلونو کې ملګرې صاحب پيژنم، نودده ليکنې هم راته نا آشنا نه دي. ډيرې خوږې او خوندورې ليکنې دي.

يو خورو والی يې په دې کې دی چې زيات شمير طنزونه يې (شير اوشکر) دي يانې په پښتو او دري دواړو ژبو يې ليکي. اوبيا يې چې په خپل خواږه غږ تمثيل کړي نو خوږوالی يې څو برابره شي.

بله مزه چې ما پکې محسوسه کړې ده هغه په ليکنه کې دافغاني تولنې خپل خوند او دموضوعاتو سوچه والی دی. لوستوال يې چې لولي او نالوستي يې چې اوري، دواړه په هماغه اندازه ورځنې خوند اخلي.

دملګرې صاحب يو طنزيه داستان چې (ويتامين دَي) نو ميده او په هيواد کې دتلويزيون له جوړيدو څخه پخوا يې درادیو افغانستان له لارې په رادیو يې نندارە

کې خپور کړی و. ترننه لازما د ذهن په هنداره کې یو ژوندی تصویر دی او که ربنتیا خبره وي، نو هغه ویتامین چې ملګري صاحب دریګ شامرد خان په دښته کې اخیستي دي، نن هم په هماغو ویتامینو ژوندی دی.

نه پوهیږم چې د شریک بالاپوش په جیب کې به یې ویتامین دي هم وي او که نه، خو یوه خبره دیاد ولوړه ده چې ملګری صاحب له دومره ښو او صافو اوستاینو سره سره د خپلو لیکنو په برخه کې د بریښې نظمه، بې سلیقې او بې پروادی. حیران یم چې خپلې دغه لیکنې یې څنګه او له کومه ځایه راټولې کړې دي.

پنځلس کاله د مخه ما څو څو ځله پرې زور راوړ چې ملګری صاحب خپلې لیکنې راټولې کړه چې د مجموعو په بڼه کې خپرې شي. بیا یې لس دوولس کیسې د سوځیدلې شمعې په نوم په کابل کې له چاپه راووتې.

او اوس یې دادی د پیښور په سروګرمیو کې د بالا پوش اغوستلو شوق وکړ. که څه هم بالاپوش زوړ دی خو ځینې وخت زاړه او انتیک شیان دومره با ارزښته وي چې نوي یې ګرد ته هم نه رسیږي. خدای «ج» دې توفیق ورکړي چې خپلې نورې لیکنې هم د غسې راټولې او چاپ ته یې آماده کړي.

په پای کې به دا دوعا ورته وکړو چې خدای دې ده ته روغ صورت ورکړي، ځکه چې په دې راوروسته وختونو کې د دول دول ناروغیو ورته مخه شویده، خو ملګری صاحب د دغو ناروغیو په وړاندې هم بې پروا اوبې غوره دی. لکه څنګه چې دده

قلم په لیکنه کې پرهیز نه پیژني او هر څه لیکي، همدا شان دی هم په ناروغۍ کې د پرهیز خیال نه ساتي.

داخبره مې ځکه وکړه چې ډاکټر له غوږو او غوښې نه پرهیز کړی و، خو داسې ختم او خیرات به په پیښور کې لږ لیدل شوی وي چې ملګري صاحب له خپلو «اندیوالانو» سره یو ځای ورته پلټنې نه وي وهلې. تیره ورځ یې وضعه ډیره خرابه وه او په لیدو یې وارخطا شوم دشپې مې هم چرت خراب و او بیا مې دده دروغتیا په خاطر اووه تودې دودۍ خیرات ومانه. ماویل چې که خدای ملګری صاحب له دې ناروغۍ جوړ کړ، نو ضرور به دا اووه دودۍ خیرات وم. له خپل دې نیت نه مې پخپله دی هم خبر کړ. او په تیوکه مې ورته وویل چې ملګری صاحب که دخپل ژوند په خاطر داکار نه کوې نوزما ددې اووه دودۍ په خاطر خو څو ورځې دغه پرهیز په ځان ومنه. خو چا ته سړی ووایي.

له هغه ځایه چې ملګری صاحب زه پیژنم په نفس تر ډیره حده غالب دی، خو نس وریاندې ظالم دی او همدا ظالم نس (ګیډه) ده چې مور یې ددې خاورینې کُړې پرمخ سر ګردانه کړې یو.

هغه دچا خبره چې په خوشې بیابان کې هر سړی داریږي، څوک حال وایي او څوک یې نه وایي. داسې بریښي چې ملګری صاحب هم یو له دغو حال ویونکو څخه دی، ګڼي دومره به نس هم وریاندی ظالم نه وي.

په هر صورت، زه یو ځل بیا د دې ارزښتمن اثر دارزښت په باب تأ کید کوم، او تاسی محترمو لوستونکو ته شاباس وایم چې زما دې خوشې کړتو پرتو ته مودلوستلو حوصله وکړه. په ډیره مینه .

کاتب پاڅون

۱۱/۳/۹۹ پېښور

چې ماڅه ویل؟

ماویل هغه ورځ چا راته وویل چې «طنز» څه ته وایي ؟! ماویل الکه پردی اوښان په ما مه څروه. زه نه ژبپوهان یم اونه ژب بیان چې تاته د «طنز» معنی وکړم. د پوښتنې خاوند غلی شو خو ماته یې دسودا اواندیښنو تسپې په لاسو راکړې. دهمدې سودا له مخې خپل زوړ اندیوال میرزا قابل ته ورغلم او له هغه مې د طنز پوښتنه وکړه. هغه زما په سادګۍ وخندل او په لنډ ډول یې راته وویل:

«طنز» او «طناز» دوه مشتقې کلمې دي چې یوه یې له بلې نه جوړه شویده، چې د (عشوې او کرشمې) مفهوم هم ترې اخیستل کیږي. لرې دې له مخې لکه کومې ښځې چې ظاهراً ښه سینګار کړی وي، ښه خوش خویه او خوش طبع وي، عشوې او کرشمې هم ورسره وي نوزه اوته یې «طنازه» بولو.

میرزا قابل داهم وویل: که مور دلرم یا مار ظاهري شکل او جوړښت ته وګورو دیر ښکلی او موذون جوړ شوی او دلاړې تګ یې هم دچابدنه راځي، خو بیا که دهمدې مار او لرم داخلي جوړښت اوښیاد ته ځیر شو په دې به وپوهیږو چې دواړه (زهر) هم لري.

میرزا قابل زیاته کړه: که له لرمانو او مارانو نه تیر شو آو یوا ځې د «طنز» په کورنۍ وغږیږو نو (طنز) دنړۍ دادبیاتو په کورنۍ کې یوه عشوه ګره، خندا مخې (خوش خویه او خوش بویه) کورنۍ ده چې لوستونکي په لومړي سرکې خوشحالوي خو چې دلمنې څنډې او پای یې وګوري نو بیاورته ناکراړي، اندیښنه او خپګان پیدا کوي.

وایي چې دشلمې پیړۍ په اوایلو او لومړیو پراوونو کې «طنز» نه وزیږیدلی. هغه وخت د (میلو، ملو) درام په نامه واړه درامونه لوبیدل چې لیدونکوته یې له خندا سره سره ژړا هم وروستله. دهمدې (میلودرام) نوم هم (ژړالرونکی خندا) وه. دغه درامونه دشلمې پیړۍ په نیمایي کې زاړه اومړه شول. کله چې دغه درامونه مړه شول په ځای یې (طنز) وزیږیده چې طنز دهماغو درامو بچی دی. تو پیر یې دادی چې هغو تمثیلي بڼه لرله او طنزونو اکثراً نثري واسکټ اغوستی دی. دغه طنز ونه ترننه پورې دنړۍ په ادبیاتو کې چکرې وهي او میلې کوي.

نو دمیرزا قابل دتعریف له مخې (طنز) هغه لیکنه ده چې باید، په

بنکلیو ،رنګینو ،ګونګړو لړونکو او کنایې جملو او کلمو باندې ولیکل شي، او په هره کرښه کې یې دجلب او جذب قوت پروت وي. چې لوستونکي یا اوریدونکي له یوې خولې خندا سره سره یوه دتاثر او بنکه هم پخپلو سترګو کې ورغړوي.

ما چې دمیرزا قابل داخبرې او داتعریفات واوریدل او د (طنز) له غوښو او هډوکو خبر شوم حیران پاتې شوم، او (طنز) راته په غړه کې ځاه ویستل بنکاره شول. ماویل رائحه الکه دخپل قلم پوزه دې پاکه کړه ،خپل جیب ته یې کړه، خو بیا تا او بل چا راته وویل چې کاکا چیرې اسې ځان دې (طنز) لیکنې ته ټینګ کړه. همـاغـه وچې بلا دې واخلم د (۱۳٤٤هـ ش) کـال نه را په دې خـوا مـې دطنز په ملاریا ځان ککړ کړ، چې تر اوسه داتبه رانه لرې شوې نه ده. او چې تـه داپوښتنه رانه کوې چې دالند داستانونه او رادیو یې اوستیجي درامونه دې له کومه وخته کرلې دي؟ نوزه درته وایم چې د (۱۳۵۵هـ ش) نه نیـولی تردانـنه (۱۳۷۸هـ ش) پورې په دې لیتې پخولو کې لګیـایم .زما رادیویي درامې له (۳۰۰) اوښتې چې دادرامې دافغانستان په رادیو کې برود کاست شوې دي. او دستیج لپاره مې شپږ درامې لیکلې چې درې یې په تیروزمانو کې پرستیج ولوبول شوې او نورو ته وخت پیدانه شو.

دغه راز ما بیچاره دافغانستان درادیو لپاره زیات و کم سل پرله پسې (دنب له دار) داستانونه لیکلي دي چې داتول پخپلو وختو کې برود کاست شوي

هم دي، او په ارشيف کې پراته دي. دخپل وطن تلويزيون ته مې بنايسته نمايشنامې (پيسونه) ليکلي چې حساب يې نه ماته معلوم دی او نه تاته. خو دا چې دامې څه کړل؟ او څه شول؟ همدې پوښتنو ته چې ته سودايي يې زه يې هم سودايي کړی يم. دومره به ووايم چې زما ډيرا ثار څه دافغانستان دراډيو تلويزيون په ګيډه (ارشيف) کې پراته دي او څه زما د وطن د مجلو او اخبارو په ستونې کې بند پراته دي. او څه د جګړو په اور کې داسې وسوځيدل لکه زه او ته، او لکه زما او ستا تور سړې، سپين سرې، سپين ږيرې، زلميان او مشومان او ياګران افغانستان چې پکې لولپه شو.

زما بله خبره داده چې زما دلنډو داستانو نو لنډه مجموعه هغه وخت چې مور مهاجر نه وو او په خپلو پولو ګرځيدو زما يو څه لنډ کې داستانونه زما خواږه ملګرې د طنزونو خزانه او دهيواد تکړه اوهوښيارزلمي (پاڅون صاحب) راتول کړل او دهغه زمانې دافغانستان دليکوالو تولنې له خوايې د (سوزيدلې شمع) په نامه چاپ کړل.

دغه څو (طنزونه) هم زما خورو اندويو الانو په خپلو ګوتو نقل کړل او ماته يې پيښور ته راورسول. څرنګه چې زه تل د پيسو له درکه غير حاضر يم او له موره پيدا مفلس يم نو د دې کتاب د چاپ لوخرڅ، خوراک او پوښاک يې هم ځينو يارانو په غاړه واخيست. پوښاک (پښتی) خو يې زمور د روند او تکړه هنر مند محترم

محمد حسین (پاوند) صاحب جوړه کړه. د پیسو تنظیم یې په لندن کی د بي بي سي د پښتو څانګې خوږو افغانانو وکړ. د کمپیوټر چارې یې ښاغلي حفیظ الله غنیتلي صاحب په غښتلوګوتو سرته ورسولې.

د اهتمام او چاپ ته د هر اړولو چاری یې د پښتو ادب د زاړه آسمان د ځوان ستوري «پیر محمد کاروان» صاحب په غاړه بار شوې.

برکت یوسفي د غه راز د دې کتابګوتې د چاپ د روند پیتی زما بختور عزیز اسدالله صافي په خپلو وچوهډو کومنزل ته ورساوه. نور نو راځه چې زه او ته دواړه دلوی خدای دربار ته لاسونه پورته کړو او دعا وکړو چې دوی ته دې خدای پاک د سلامتۍ او خوښۍ ژوند ورکړي، او د ګران هیواد په دې لګیدلي اوردې رب العزت د سولې او به توپې کړي.

آمین

عبدالمنان ملګری

۱۹۹۹-۳-۱۶ پیښور

که بناروالی نه وای ویلي

زمونږ په هېواد کې د سلطنت زمانه وه هر سړی ځان سلطان ګانه او هر غټ سړي په مونږ حکمراني کوله ځکه چې هغه وخت د حکمران د نامه دبدبه زیاته وه دا په دې چې د هره موده زمونږ په سیمه کې حاکم کار کاوه، ناڅاپه اوازه شوه چې دا سیمه خکمراني شوه او حکمران ورته مقرر شوی دی. زمونږ په سیمه کې د حکمران د راتګ سره یوه هلهله او غلغله جوړه شوه. مونږ ماشومان هم وارخطا شو چې (حکمران) به څه شی وي لکه چې ما چې یوه ورځ له خپل پلاره پوښتنه وکړه:

- دادا! حکمران به څه ډول شی وي؟

پلار مې له قاره سترګې رابرکې کړې:

- چوپ شه. حکمرانان د هر غټ غټ دي، مونږ هغو پورې نه شو رسېدلی. زمونږ د کلي تولو ماشومانو سره د حکمرانانو د غټ والي سودا راپیدا شوې وه آن تر دې چې یوه ورځ مونږ تول کوچنیان د کلي په جلګه کې راغونډ شوً د حکمرانانو په باره کې مو خبرې شروع کړې. په مونږ کوچنیانو کې "مامدو" لږ مشر و، یانې ایله د لسو کالو به و وار د واره یې راتوپ کړل او له مونږ نه یې پوښتنه وکړه:

- زمـوږ پلرونـه راتـه وايـي چـې حکمـران ډېر غـټ.. غـټ دي زمـوږ پلرونـه خوهـم غـټ غـټ دي ولـې حکمرانـانو تـه نشـي رسـېدای؟

موږ ټول کوچنيان چوپ و خو "اسلمی" چې لـه مـوږ ټولـو نـه کشـر و او ډېر شوخ و په خبرو کـې راولـوېد او ويـې ويـل:

- چـې زمـوږ پلرونـه ورنـه وارډه دي. نـو حکمرانـان بـه ارومـرو د غـټو غـټو غوايـو پـه انـدازه وي..!

د "اسـلمي" لـه دې خـبرې سـره د قاسـم مامـا زوی "چـرک" چـې لـه اسلمي نه لږ مشر و په اسلمي په قار شو او ويـې ويـل:

- چـي سـتا پلار هـم ټول او تـرازو شـي د غوايـي پـه انـدازه غـوښه او وازده کـوي، حکمرانـان حتمـاً لـه غوايـو نـه غـټ دي او د فيـل پـه انـدازه دي!

د چرک لـه وينا سـره "مـامدو" چـې لـه مـوږ نـه هوښيـار و ويـې ويـل:

- چـرکه انډيوالـه! داسـې نـه ده. فيـلان سـړي نـه خـوري.. مـا اورېدلـي چـې حکمرانـان سـړي خـواړه دي، نـو ارومـرو حکمرانـان ډېرې غـټې بـلاوې دي. چـرک د "مـامدو" خـبره وربيـاتي کـړه ورتـه يـې وويـل:

فيـلان چـې هـم په غوسـه شـي انسـانان وژنـي.

- درسـته ده.. خـو فيـلان کلـه کلـه پـه غـوڅه کـېږي او حکمرانـان تـل په غـوڅه کـې وي..!

پـه دې خـبره مـوږ ټولـو کـوچنيـانو پـه کـړس کـړس وخنـدل. او پـه دې زمـوږ بـاو راغـی چـې حکمرانـان ډېرې سـترې بـلاوې دي او مـوږ کـوچنيـان يـې بايد مخـې تـه ورنـه شـو، مـوږ کـوچنيـانو چـې بـه لـه ځانـه هـر غـټ شـی لو هـر ناشـناس غـټ سـړي ليـده ورنـه بـه تښتـېدو مـوږ بـه ويـل چـې (حکمـران نـه وي)

خـير څه سـر بـه دې خـوږوم چـې "حکمـراز" راغـی ډېر کارونـه او پيکارونـه يـې زمـوږ په کليوالـو شروع کـړل. يـو کـار يـې دا وو چـې (د ښاروالـی رئيـس) يـې مـوږ تـه وتاکـه، زمـوږ مشـران او کليـوال پـه

بناروالی ماروالی باندې نه پوهېدل خو یوه ورځ زمونږ کلي ته څو سپاهیان راغلل، زمونږ سپین ږیرو ته یې وویل:

- حکمران صاحب تاسو ټول سپین ږیري حکومتي ته غوښتي یاست نن د بناروالی رئیس تاسو ته پیژندل کېږي..!

زمونږ سپین ږیرو د حکمران د خوښۍ د پاره د کلي زلمیان او مونږ کوچنیان هم له ځان سره حکومتي ته بوتلو!

بازار ته چې لاړو مخلوقات ټول ولاړ وو- له جولانه نیولی تر نانوا پورې او بیا له نانوا نه نیولې تر ټټار او آهنګر، سلمانیانو او ملکانو، خانانو پورې دا ټول کسان حاضر وو- نه حکمران وٴ نه بناروالي یواځې څو تنه سپاهیان زمونږ خواوشا ته ولاړ و او زمونږ څار یې کاوه- هرچا د بناروالۍ د رئیس په باره کې فکر کاوه.

مونږ ټول کوچنیان یو څنګ ته ولاړ و- مونږ هم فکر کاوه چې د بناروالۍ رئیس یعنې څه؟ ځکه تر هغې ورځې پورې مونږ نه په بنار بلد و او نه د بناروالۍ په رئیس آن تر دې چې زمونږ پلرونه او نیکونه هم لهٔ دې نامه سره نابلد وٴ.

- خیر په مونږ کوچنیانو کې بیا پس پسۍ شروع شو یوه کوچني وویل چې:

- د بناروالۍ رئیس ما د جلال آباد په بنار کې ولید (شپږ) پښې یې درلودې!

یو بل ماشوم چې مونږ کوچنیانو نه پېژانده او د بل کلي و، وویل چې:

- ته نه پوهېږې، د بناروالۍ رئیس اوومه پښه هم لري، ما په خپلو سترګو لیدلی ده؛.

یو بل هلك وویل:

- تاسې دواړه درواغ وایي، ما د بناروالی رئیس له نژدې نه لیدلی دی، د بناروالۍ رئیس "چرګ" غوندې دوه پښې لري، د تېرې ټونګې خاوند دی. کټ مټ (چرك) دی، خو لکۍ نه لري، څېره یې د انسان غوندې ده... مګر خیټه یې دومره لویه ده چې

ټول بازار او بنار پکې ځاییږي. موږ ټول کوچنیان دې تعریف ته هك پك و چې چك چکې شوې.

ټول حاضرین لك څك شول- موږ کوچنیانو هم چې پورته وکتلې ومولیدل چې دوه غټان وړاندې وروسته راروان دي او شاشاته یې لکه د جنازې تابوت نور سپین ږیري او مخور په ترس او لرز ورپسې روان دي، یو دم د بیانې د میز شاته یو نری درښې کړی سړی راغی اعلان وکړ چې:

- حاضرینو! غوږونه ونه ښوروئ! دا دی همدا اوس ستاسې په مخ کې جناب حکمران صاحب او د ښاروالۍ جناب رئیس صاحب ولاړ دي، چك چك وکړی.

نو به دې ورځ مه دې وینم، له دې وینا سره سپین ږیرو، ملکانو، کوچنیانواو راغلو کسانو له ویرې نه داسې چك چکې وکړې چې ځمکه او فضا یې ونیوله... د ډېرو لاسونه پکې تناکې شول.

خیر له یو لړ مراسمو او مراحلو نه وروسته جناب ښاروال صیب راغی، په نطق یې پیل وکړ.. خبره یې له دې ځایه شروع کړه:

- وطنوالو! دکاندارانو! سپین ږیرو او سلمانیانو!

زه د ښاروالۍ رئیس یم.. اولاً باید تاسې ښار وپېژنې بیا ما وپېژنې، وګورئ ښار کې څومره قسما قسم ټکران، خوږې خوږې مېوې او شیرینۍ ګانې دي، زه هم ښار غوندې یو خوږ رئیس یم؛ که زه مو یوه ورځ ولیدلم لس ورځې به قند ته ستاسې زړه و نه شي، ځکه چې زه جلالتمآب په خپله له قندو نه خوږ یم.

د ښاروالۍ جناب رئیس خبرې کولې چې په دې کې زموږ د کوچنیانو په ډله کې یو ماشوم ببدرېغه وپرنشلې او عطسه یې ووځله، له دې اخسې سره پهلوان قصاب خندا پسې وا خیست... هر څو یې چې ځان ټینګاوه نه کېده. پهلوان قصاب خندلې چې د ښاروالۍ رئیس صاحب ورته پام شو. د خطابې له میزه په منډه

راکوز شو او په پهلوان قصاب يې لکه لېوه منډه واخيسته، نو قربان دې شم، بدې ورځې نه دې وينم، داسې څوك نه و چې په ميدان کې ځان ټينګ کړي. ته تښته او زه تښته، ته تښته اوزه تښته.

سپين ږيري او تور ږيري او مور ټول کوچنيان وتښتېدو، يوازې پهلوان قصاب چې د ښاروالۍ د رئيس هيئت نيولی و، ورته پاتې شو، رئيس هغه له ستوني ونيو، پورته يې کړ په دا ځمکه يې وويښت، تر هغې يې پهلوان قصاب وواهه، تر څو ورباندې سترې شو.

د ښاروالۍ رئيس صېب چې د پهلوان قصاب سزا ورکړه ښېرته د خطابې مېز شا ته ودرېد، مور ټولو تښتېدلو کسانو ته يې اشاره وکړه او چغې يې شروع کړې:

- راځئ! راځئ! زما بيانيه پاتې ده. تر اخره ورته غوږ ونيسئ، که څوك رانغی غوږونه يې ورته پرېکوم.!

د ښاروالۍ د رئيس صېب له وېرې ټول تښتېدلي کسان بېرته ورغلل او د رئيس ښاروالۍ او د حکمرانصاحب په حضور ځورند سرونه ودرېدل. د ښاروالۍ رئيس بيا په خبرو پيل وکړ، خو څرنګه چې د خلکو حواس خراب وو او په تېره بيا مور کوچنيان خو له وېرې لړزېدو، د رئيس په پاتې خبرو و نه پوهېدو، خو يوازې دغه خبره مور واورېده چې د ښاروالۍ رئيس صاحب وويل:

- اوس خو وپوهېدئ! تاسې بايد په سوله او آرامۍ کې ژوند وکړئ!

په همدې خبرو وينا خلاصه شوه او مور ټول راغلي کسان په خپله مخه شو، ټولو کليوالو ته دا فکر پيدا شو چې سوله او آرامۍ په وهلو او ټکولو کې ده.

خير پلار مې زه له لاسه ونيولم او په بازار ورډکه شه، نيم بازار ته چې لاړو، د پلار سترګې مې د قصابۍ په يو دکان وګېډې، ما ته يې وويل:

- بچيه! لږ غوښه به درته واخلم چې بيا يې په کور کې پخه کړو!

ما هیڅ و نه ویل. پلار مې قصابی ته جګ شو، قصاب ماما ته یې وویل:

- یو کیلو غوښه د پسه له ورانه نه راکه.

قصاب خپله چاړه د ورانه په ځای د پسه په لاس کې بنده کړه... پلار مې په وارخطایی ووېل:

- زه د ورانه غوښه غواړم. ته د لاس غوښه راکوې!

زما د پلار له دې وینا سره قصاب له قاره خپله چاړه زما د پلار خوا ته غوزار کړه، خو بلا وه برکت یې نه و، چاړه د دکان په دروازه ور ننوته، کنه نو زما د پلار ګېده یې مشك غوندې ور څېرله. پلار مې او ژه په وېره له قصابه وخوځېدو، خو قصاب زما پلار ته غږ کړ:

- اوس خو وپوهېدې چې مور باید په سوله او آرامی کې ژوند وکړو؟

قصاب وسله درلوده. مور بې وسه و، نو زه او پلار مې ځورند سرونه مخ په کور روان شوو. مور خپل کور ته ورسېدو مور او خور مې چې نوې پېغله شوې وه، د پلار مخې ته راغله، سلام او احترام یې وکړ، مور مې له سلامه وروسته زما پلار ته وویل:

- له بازاره راغلې، یو پاو چای او ګوړه خو به دې راوړې وه.

زما د مور له دې خبرې سره زما د پلار سترګې سرې شوې، وار د واره یې زما مور سره غږ په غږ شو، زما مور یې لکه د والیبال توپ پورته کړه په دا ځمکه یې غوزار کړه، په خپته یې ورته کېښاست، تر هغه یې په سوکانو او څېړو ووهله، تر څو پوزه او خوله یې وینې شوه، بیا یې زما موږ خو شې کړه اوورته یې په قار وویل:

اوس خو وپوهېدې؟ تاسې باید په سوله او آرامۍ کې ژوندو کړئ. مور مې خپله خوله او سپږمې پاکې کړې، زما خور چې د کور انګړ یې جارو کاوه، ورغله او په قار یې ورته وویل:

- ژوندۍ شې لوړې! انګړ څوك همداسې جارو کوي؟ یو ځای پاکوې لس ځایه یې چټلوې.

خور مې چې جارو يې په لاس کې وه، زما مور ته يې وکتلې ورته يې وويل:

- مورجانې! کوم ځای يې ناولی دی؟ نه ګورې چې ټوله مې پاکه کړه!

زما خور لاخبره نه وه خلاصه کړې، چې مور مې هغه له وښتانو نه ونيلوه، پوز يې ورته په ځمکه سرينې کړ، ډېره يې ووهله. اخر يې زما خور په اوږه باندې په غابنې کړه، خور مې چغې کړې، ايله يې خوشې کړه، کله چې زما خور يې خوشې کړه، نو په داسې حال کې چې له سترېا يې هنجې وهلې، ورته يې وويل:

- اوس خو وپوهېدئ؟ تاسې بايد په سولۀ او آرامۍ کې ژوند وکړئ!

خور مې هېڅ و نه ويل، د انګړ په جارو کولو يې پيل وکړ، ما او زمور ګاونډي هلک چې له ما نه درې کاله وړوکی و، په انګړ کې مردکيو لوبه کوله، په همدې وخت کې زما د خور سترګې په ما ولګېدې، له جارو سره راته راغله او په قار يې راته وويل:

- ړوند شې، زه کور پاکوم، ته يې چټلوې!

- زه چې حيران وم خپلې خور ته مې وويل:

- خور جانې، ما خو انګړ نه دی چټل کړی، زه خو کناره توشله بازي کوم!

دا خبره نه وه، زما په خور د توپک درز و، له چپه غوږ يې ټينګ ونيولم او په ښي مخ يې راته څپېړې حواله کړې، تر هغه يې ووهلم چې ماويل له مخه مې لمبې پورته کېږي، خور مې راته په اخر کې وويل:

- ځوانيمرګ شې! اوس خو وپوهېدې؟ مورې بايد په سوله او آرامۍ کې ژوند وکړو.

خور مې لاړه ما او هغه ګاونډي هلک بيا د مردکيو لوبه پيل کړه، هغه له ما نه کمزوری و، زه پرې زورور وم، ما هم هغه ته بانه جوړه کړه ورته مې وويل:

- په لوبه کې ګوري کوې، ستا پلار هم د مردکیو لوبه نه شوه کولای، ته خو یې لازوی یې!

هلك راته په توندې وویل:

- مور دې پیدا نه وه چې ما د مردکیو لوبه کوله.

د ګاونډي هلك له دې خبرې سره زه او هغه غږ په غږ شو، هغه مې د کور په ویاله کې څملاوه، په ختو مې ککړ پکړ کړ، کله چې هغه له ویالې نه جګېده، ما ورته وویل:

- اوس خو وپوهېدې؟ تاسې باید په سوله او آرامۍ کې ژوندو کړئ.

دغه هلك د مدیر زوی و، چې زمور له کور سره یې د کور دېوال شریك و، کله چې له ویالې نه جګېده، په دې وخت کې زمور خوسی چې د دېوال بل څنګ ته ولاړ و، رمباړه یې کړه. زمور غوا په انګړ کې نه وه. بل ورور مې پیوانې ته ببولې وه... شاید خپلې مور پسې یې رمباړې وهلې، خو د مدیر زوی یوه غټه ډبره واخیسته زمور خوسی بیچاره یې په دا ګېده کې وواهه او منډه یې کړه، په لاره کې یې زمور خوسې ته غږ کړ:

- اوس خو وپوهېدې؟ تاسې باید په سوله او آرامۍ کې ژوند وکړئ.

له دې وینا سره د مدیر یونس زوی خپلې کلا ته ورننوت، د مدیر یونس زوی چې کاله ته ورغی، خپل پلار ته یې زما او د هغه د جنګ کیسه کړې وه، لس دقیقې به وې تېرې مدیر یونس چې له قاره تور بانجان ورنه جوړ و، زمور د انګړ دروازه یې داسې په زوره وټکوله، چې تا به ویل اوس به یې له دېوال مېوال سره چپه کړي. د دروازې له وهلو سره پلار مې، مور مې او مادروازې خوا ته منډه کړه، کله چې دروازې ته ورسېدو ومو لیدل چې مدیر یونس لکه ببر غوندې ولاړ دی. پلار مې ورته په ډېره آرامۍ سلام واچاوه، خو مدیر یونس په قار وویل:

- سلام پسې دې اور شه، که ته احمق نه وای، داسې احمق زوی به دې نه وای زېږولی، ستا زوی زما زوی وهلی دی.

پلار مې په عاجزۍ ورته وویل:

- مدیرجانه! ماشومان خو یوه شپېه په جنګ وي، بله شپېه سره پخلا وي.

زما د پلار له دې وینا سره مدیر یونس لکه ببر غوندې توپ کړ او زما پلار یې تر ستوني ونیو، یاره که پلار مې لږ ځان ورته تینګ کړی وای، مدیر یونس یې څملاوه، خو پلار مې له هغه ووېرېده، ځکه چې هغه مدیر و، پلار مې ورته ځان د مړي غوندې وغځاوه، څو چې د مدیر یونس په لاسو کې قوت و، زما پلار یې وواهه، ما او مور مې هم مداخله و نه کړه، ځکه وېرېدو چې دا ځل مدیر یونس موږ ته سوله او آرامي را و نه بنیي.

خیر کله چې مدیر یونس زما د پلار له وهلو نه فارغ شو، مخ په خپل کور وخوځېد او زما پلار ته یې له لېرې غږ کړ:

- اوس خو وپوهېدې! تاسې باید په سوله او آرامۍ کې ژوند وکړئ!

لنډه دا چې د ښاروالۍ د رئیس سوله او آرامي زموږ په ټوله سیمه کې رواج شوه، هر غټ به پاڅېده حق ناحق به یې وړوکی او کمزوری واهه او بیا به یې دا شعار ورته تکراراوه چې:

- اوس خو وپوهېدئ؟ تاسې باید په سوله او آرامۍ کې ژوند وکړئ.

د ښاروالۍ د رئیس سولې او آرامۍ زموږ ټوله سیمه کې بې اندازې ګډوډي او جنګ او جدال پیدا کړ، د مثال په ډول یوه ورځ زموږ د کلي د لویې ویالې ورځ اوبو وړې و، د کلي خان زموږ ملک ته ویلي وو چې:

- نغاره دې ووهل شي، ټول کلیوال دې راټول شي، چې ویاله جوړه کړي.

ملك هم په خپل تواچي باندې نغاره ووهله، مور تول کليوال سپين ږيري زليمان او کوچنيان د ببل او کولنګو سره راغلو چې ويالې جوړه کړو، کله چې تول کليوال راغوند شول، خان صېب په قار شو، ملك ته يې وويل:

- د کتيږ نغاره بايد يو ساعت دمخه وهل شوې واى، تا لتې وکړه، يو ساعت وروسته دې کليوال راتول کړل.

ملك په عذر ورته وويل:

- تا اشتباه کړې خان صاحب! نغاره په خپل وخت وهل شوې او کليوال هم په خپل وخت راغلي دي.

د ملك له دې خبرې سره خان صاحب په ملك باندې ځمکه او آسمان سور تنور کړ، ملك يې د کليوالو په مخکې ځملاوه او په وهلو وهلو يې شين کرت ورنه جوړ کړ، کله چې يې ملك خوشې کړ، نو خانصاب په قار ورته وويل:

- اوس خو وپوهېدئ؟ تاسې بايد په سوله او آرامې کې ژوند وکړئ.

د خان صاحب دې وضعې د ملك طرفداران وتورول، بس کليوال دوه ډلې شول يوه د ملك طرفداره ډله، بله هم د خان صاحب طرفداره ډله، په خپلو کې سره په ببلو او کولنګونو وارونه او ګوارونه شروع کړل او په جنګ جنګ کې به تولو سره ويل:

- اوس خو پوهېدئ؟ تاسې بايد په سوله او آرامې کې ژوند وکړئ.

تر هغه دا جنګ روان و، تر څو کليوال تپيان شول او له پښو پاتې شول او په ځمکه لکه کدوانو غوندې ولوېدل، د چا کولمې وتلې وې او د چا غوږ پريك و او د چا پوزه نه وه، تولو تپيانو لکه چې د ځنکدن حالت کې وې، همدا شعار به يې له ځان سره تکراروه چې:

اوس خو وپوهېدئ؟ تاسې بايد په سوله او آرامې کې ژوند وکړئ.

دوی همداسې پراته وو چې چا حکمرانصاب ته زمونږ د کلي د جګړې اطلاع ورکړه، بنایسته ځنډ وروسته حکمرانصاحب، د بناروالۍ رئیس صاحب، قوماندان صاحب، سپاهیان او یو ډاکټر زمونږ کلي ته راغی کله چې حمران صاحب د تپیانو سرته ودرېده، نو ورته وغورېده چې:

- احمقانو! تاسې ټول احمقان باید مړه شئ! تر څو تاسې په سوله او آرامئ کې ژوند وکړئ؟!

حکمران صاحب به نور څه ویلی و؟ خو ډاکټر صاحب یې خبره لنډه کړه او حکمرانصاحب ته یې ویل:

- حکمرانصاحب! سوله او آرامي د مرګ نوم نه دی او نه د انسانانو کولمو ویستلو ته سوله او آرامي وایي، سوله او آرامي د وروړې او ژوند نوم دی.

په دې کې میرزا عاقل چې هلته ولاړ و، ډاکټر ته وویل:

- نه ګورې چې زورور هېوادونه د کمزرو هېوادو کولمې وباسې او بیا ورته دا شعار ورکوي چې:

اوس خو وپوهېږئ؟ تاسې باید په سوله او آرامي کې ژوند وکړئ.

هغه مړی چې ژوند شو

یو دوست مې په مکروریانو کې کور واخیسته ... خو میاشتې وروسته هغه خارج ته لاړ او کور یې ماته بې کرایې راکړ.

کور دې ورته آباد وي. د هغه احسان مې تر اوسه نه هیربږي.. خو موږ چې د مکروریانو له ژوند سره نا اشنا وو شپې ورځې مو په ډېر قید تېریدې...

کله کله به موږ له غیر مترقبه پیښو سره هم مخامخ شو. مثلاً په لومړۍ ورځ چې موږ د خپل دوست کور اشغال کړ، زما خوابنې نظر په یوې لویې برقي تبې ولګیدې خو خوابنې مې ګومان کاوه چې دا کوم بل ډول یخچال دی....

ببدریغه ورغله چې لږ اوبه د څښلو لپاره سړې کړي...

کله چې یې په برقي تبې لاس کیښود یو (آخ) یې وکړ او بیا وغورځېده.

له دې پیښې سره ما او زما مېرمنې په ډېرې وارخطایۍ دهغې خواته وځغاستل خوابنې مې بې هوښه وه او د لاس پوستکی یې هم سوزیدلی وو زه او مېرمن مې تازه وپوهیدو چې یخچال نه دی بلکې برقي تبې ده چې پخلی وربانديې کېږي.

په سبا شپه چې زه له بناره راتلم خپل اپارتمان مې غلط کړ، بل اپارتمان ته ورغلم کله چې دویم پوړ ته ودرېدم.

غږ مې کړ.
- څه شوې؟ د زلمي موړې! دروازه خلاصه کړه.
له آخوا نه یوې نجلۍ غږ وکړ چې:
- ته څوک یې؟
د وره (په شدت) زه؟ زه په خپله یم. یانې ستا پلار.
-اوس چې مکرویانو ته راغلې دومره کلنکاره شوې چې خپل پلار نه پېژنې؟
- چوپ شه. سم غږېږه زما پلار خو همدا اوس هم زموږ په کور کې ناست دی.
وپوهېدم چې سلام مې د دېوال سیوري ته اچولی. له هغه ځایه کښته شوم. بل اپارتمان ته لاړم او له هغه ځایه بل ته تر څو زموږ د اپارتمان کاونډۍ راغې.
زه یې وپېژندلم او خپل کور ته یې ورسولم. زه ملامت ځکه نه وم چې د تولو کورنو رنګ روغن قد او قواره یو دول وه خیر آخر کرار کرار موږ د دې ځای د اوسېدو په چل ول پوه شو.
د خدای کړه وو یو وخت زه ډېر سخت ناروغ شوم. دومره چې نور له ودرېدو او ګرځیدو له خیره سره پاتې شوم او سم تخته پریوتم میرمن مې مجبوره وه چې ما کوم روغتون کې بستر کې.
خو یو مشکل سره چې مخامخ وه. هغه دا و چې له کوټې نه ما په څه ډول بیرون وباسي او په زینه کې مې څه ډول کوز کړي. ځکه ما دمخه عرض و کړ چې زه دومره کمزورې وم چې نه په شا تینګېدای شوم او نه په خپله تلای شوم.
میرمن مې خپلې مور ته وویل:
- مورجانې! باید د هلکانو پلار روغتون ته ورسوو هغه مري خو څنګه یې له دې کوره کښته کو؟
- لوړې! دروازه تنګه ده زینه کې هم دکټ کوزول څه اسانه خبره نه ده.

خاوند خو دې نه په شا تینګبدای شي او نه په خپلو پښو تلای شي.

- نو څه چاره وکو؟ که داسې یې پرېږدو نو دهغه صحت خو...

(پوهېږم چاره دا ده چې باید د هلکانو پلار په رسۍ کې وترو زه او ته یې له دویم منزل نه لاندې ځمکې ته کوز کړو. د خوابنې له دې خبرې سره مې اندامونه ځیږه شول.

ما ویل یا باري متعال کنه رسۍ راباندې وشلېږی او یا د دوی له لاسه خطا شي؟ خیر زه هسې هم مړ وم ناروغې د هر کړولی وم مجبور وم چې خپل طاقت له لاسه ور نه کړم په هماغه ورځ زه مې خوابنې او میرمنې په رسۍ کې وترلم او له دویم منزل ته یې ځمکې ته کوز کړم او له هغه ځایه یې روغتون ته واستولم. کور یې آباد روغتون د هر ژر بستر کړم.

زما ناڅاپي د هره سخته وه برسیره په دې کمزورې شوی هم وم نو څکه معالج ډاکټر راته وویل چې دیر ونه غږېږم.. ما خو هسې هم خبرې نه شوې کولې.

د ډاکټر په وینا مې بیخي ځان ګونګ واچاوه شپه په بستره کې پروت وم د روغتون نرس راغې موږ چې په کوټه کې دوه تنه ناروغان بستر وو یو ناروغ په همدې شپه زما له راتلو سره سم مړ شو. زما پښه هغه ته ښه نه شوه.

خیر نرس د مړې د ویستلو لپاره زموږ اطاق ته را ننوت. مړې یې په تذکره کې واچاوه بیا یې ماته وویل:

- مه ویرېږه! تا به خدای د هر ژر روغ کړي.

ما ته چې ډاکټر ویلي وو چې مه غږېږه ځان مې غلی نیولی و. نرس بیا وویل:

- لکه چې ناروغې د هر عذاب کړی یې؟

زه بیا هم غلی وم.. بیا یې راته وویل:

- ولې غلی یې سترګې خو دې وازې دي ویده خو هم نه یې؟

ما نه څپلې سترګې رپولې او نه مې خوله خوزوله.

اخر نرس وپوهېده چې زه هم وفات شوي يم نو يې په تأسف وويل:

- ای خو ولا مرده دانش، چشمانش واز مانده چه شدی بیائین. زود بیائین.

زړه مې غوښت چې نرس ته ووایم زه مړ نه یم. مګر ماته ډاکټر ویلی وو چې نه به غږېږم شیبه وروسته زه او زما هم اطاقه مړی دواړه د نور مړو کوټې ته یې بوتلو او کوټه یې را پسې کلوپ کړه.

زړه مې د بر غوښت چې چیغې کم، خو ماته خپل معالج ډاکټر ویلی وو چې نه به غږېږم. ځان مې غلی ونیو او فکر مې وکړ چې بیا به کوم بل ناروغ ته ووایم چې زه مړ نه یم مګر په هغه کوټه کې له داسې پیښې سره مخامخ شوم.

- (په اضطراب) اوه خیر دغه اندیوال ته به ووایم چې زه ناروغ نه یم.

لږ ور وړاندې شوم، ورته مې وویل: تاته وایم روکی! زه ولاکه مړ یم. زه ژوندی یم.

- (په حیرانۍ) اوه دا خو خبرې نه کوی

د یو بل مخ مې لوڅ کړ.

(په ډېره حیرانۍ) اوه دا خو هم مړ دی.

بیا مې ځان سره وویل، راځه دا بل ته به ووایم. لږ ور نژدی شوم او ورته مې وویل:

- قربان زه او ته یې څنګه دې تیارې کوټې کې بندیان کړی یو؟ لکه چې په تا یې هم د مړی ګومان کړی. باوروکه چې زه هم مړ نه یم

(په حیرانۍ) اوه دا خو هم نه غږېږي دا خو هم مړی دی.

لنډه دا چې قربان هر چپریکټ ته چې به تلم پوهېدم چې مړې سره خبرې کوم اووپوهېدم چې زه یې د مړو کوټه کې له مړو سره یو ځای اچولی یم او په ما یې هم دمړی ګومان کړېدی. نو د ډاکټر له هدایت نه مې انحراف وکړ او چیغې مې کړې.

- (دروازه ګړبـوی) وازه کـئ! خـدای روی تـه وګورئ زه ... زه مـړ نه یم .. خلاصه کـې.

زمـا لـه دې چېغـو سـره پـه ټول روغتـون کـې اوازه شـوه چـې مـړی ژوندی شوی دی نو له نرسانو نـه نیولـی تـر پیـاده پـورې لـه روغتـون نـه وتښیـدل او هـر چـا بـه ویـل چـې مـړی ژونـدی شـوی دی هغـوی حـق درلـود ځکـه چـې زه د مـړو پـه کـوټه کـې بنـدی وم د مـړی د ژونـدی کېدو اوازه تر هغـې پـورې تـوده شـوه تـر څو زمـا معـالج ډاکـټر راغـی او زمـا لیـدو تـه د مـړو کـوټې تـه را ننـوت او تـازه وپوهـېدم چـې زه مـړ نـه یـم خـو پـه یـوه وړه اشتباه زه د مـړو پـه ډلـه کـې حسـاب شـوي یـم.

ما غوښتل چې مدیر شم

کـه تاسـې تـه پـه یـاد وي مـا پـه یـوه زمانـه کـې یـوه خـبره تاسـې تـه اورولـي وه چـې کویـا د مدیـر سـازی فابریکـه جـوړه شـوې ده اوس غـواړم چې په همـاغـه زمانـه کـې کویـا خپـل شـوق او ذوق هـم تاسـې تـه واوروم.

قربـان دی شـم. پـه هغـه زمانـه کـې زه هـم د مدیـر کیـدو شـوق لیونـی کـړم. مـا ویـل الکـه دا څه خـبره ده واړه واړه شـیر خـوره هلکـان مدیـران کـیږي. او ستا ږیـره مـاش او برنـج شـوه، خـو لـه سـر کاتب نـه برکـاتب درنه جوړ نه شو. لـه تـا سـې یـې څه پـتـه کـړم. مـا دا ملامتیـا پـه خپـل ځان بانـدې بار کړه مـا ویـل زه پـه خپلـه ملامـت یـم. کنـه نـو مدیـو کـیدل خـو څه ګرانـه خـبره نـه ده چـې واړه ماشـومان ځان مدیـران مقررولـی شـي او تـه یـې نـه شـې کـولای؟ ارو مـرو دې خپـل اورمیـر مـات دی. جرئـت نـه لـرې. دارن یـې. نـو هغـه وو قربـان چـې یـوه ورځ مـې لـه ځان سـره تصمیـم ونیـو چـې الکـه نـن کـه م هـم شـم ځان بـه مدیـر وم، هغـه وو قربـان چـرت مـې. وواهـه چـې بـاید ځانتـه د مدیرتـوب لنډه لاره پیـدا کـړم. نـو دوه چپړاسـیان مـې پیـدا کـړل. پـه ټولـو دفترونو وګرځیدم چـې ځانتـه بو لـوی میز پیـدا کـړم. ځکـه زه پوهیـدم چـې ټول فسـاد پـه همـدې لـوی میز کـې دی. هـر څوك چـې د دې لـوی مـیز شـاته کینـاست نیـغ پـه نیغـه او بـې تکلیفـه مدیـر دی. نـو قربـان دې شـم سـر بـه دې څه خـوږوم،

دواړه چپړاسیان مې د خپل لوی مدیر کوتې ته ور ننویستل. څکه د هغه میز زمونږ د ټولو میزونو نه لوی و، همدا وجه وه چې په مونږ به یې اتکې پتکې کولې، ما ویل الکه که دغه میز دی ور نه واخیست نور نو د دې سړي د پتکو او تهدید نه خلاصیږي، خبر قربان دې شم. کله چې شعبې ته ورغلو زمونږ له طالعو لوی مدیر صیب تشریف وړی و. نو چپړاسیانو ته مې وویل:

- الکو پورته کړی دا لوی میز.

- چې میګی؟ ای میز از مدیر عمومی است.

- می فامم باد از ای ده ای میز شسته نمی تانه.

- تو دیوانه شدی ای میز به ای مدیر خریداری شده.

- کل فساد د ای میز است، اګه ای میز نه می بود ای ادم خوده سری ما و شوما مدیر نمی ساخت.

- اوه میر زاجان ګفتم که ای میز به ای ادم خریداری شده.

- غلط میګی! بلکه ای ادم به ای میز خریداری شده.

- (په شدت) نه، نه، ای میز به ای ادم خریداری شده.

- چپ باش! ای ادم به ای میز خریداری شده.

- الی تو چه میخواهی؟ میرزا! مقصد از ای ګپا چیس

- کل و کوتا بری تان میګم، که میخواهم باد از ای خوده بری ای میز خریدای کنم.

- خوالی فامیدم، تو هم میخواهی که مدیر عمومی شوی؟

- بلی بلی.

هغه و قربان چې میز مې لکه د مسافرو مړی چاردسته او چاراسپه په یو ترپ سره د لوی مدیر له کوټې نه وایست او په خپل دفتر مې ور ننویست، او شاته یې ز ه هم لکه فیل مرغ غوندې کښناستم.

یوه پښه مې په میز واچوله، او بله مې په څوکی. ما ویل چې اوس مې ایله د زړه ارمان ووت.

دا ده که خیر وو اوس نو لوی مدیر شوم. مدیر کېدل خو کوم سخت کار نه دی، د خپل لوی مدیر د میز نمبر پلیټ مې لرې ګوزار کړ او ژر ژر مې خپل نوم او تخلص په کاغذ کې ولیکه او د میز په څوکه مې ودرواه او په اصطلاح خپل نمبر پلیټ مې په میز باندې نېغ کړ.

مغرور ناست وم چې زمونږ پخوانی لوی مدیر له اتو تنو چپراسانو سره را ننووت، ما چې هماغه ساعت خپل ځان لوی مدیر مقرر کړی وو چرت مې پې خراب نه کړ لکه څنګه چې ناسوت وم هماغسی ناست وم، منتها په بې پروایې مې ورته وویل:

- خیریت وو؟ کوم امر او خدمت؟

- (په تونديۍ) ته لاد خیریت پوښتنه کوې؟ زما میز دې ولې راوړی دی؟

- (په تمسخر) ستا میز؟ عجیبه ده، ته د میز یې که میز ستا دی؟

- (په تونديۍ) زه د میز یم او میز زما دی.

- اشتباه کوې میز د هغه چا دی چې شاته یې ناست وي، نه ګورې چې شاه ته یې څوک ناست دی؟

- (په تعجب) یانې؟

- د یانې او مانې مانا دا چې اوس زه د دې میز شاته ناست یم او چې د میز شاته ناست یم نو زه په خپله غټ مټ او سوته موټه مدیر یم.

ټولو راغلو چپراسیانو وخندل. ما هغو ته په بیړه وویل:

- (په وار خطایۍ) عجیبه ده، زما د خبرې کوم ځای د خندا وړ و؟ تاسې په ما پورې ولې خاندئ؟ تا سې لېونیان یاستئ او که زه؟

هغو بیا وخندل او ما بیا وویل:

- ولې خاندئ؟.... ولې...؟

- مونږ هم په تا خاندو او هم ستا په کار

- زه او زما کار څنګه د خندا وړ دی؟

- د دې لپاره چې تش د يو مدير د ميز شاته کښناستو باندې له چا نه مدير نه شي جوړولی.

- نو څنګه کښدای شي قربان چې زه مدير شم؟

- (په موسکا) د مدير کښدو چل له مانه پوښتې؟

- خامخا يې له تا پوښتم، که ستا چل بازي نه وای زده او د ګښدړې لکی درسره نه وای نو ما غوندې به په شلو کالو کې هم مدير شوی نه وای.

- ورشه له هغه چا نه يې زده کړه چې رئيسان شوي دي.

- زه نه غواړم چې د رئيس کښدو چل زده کړم، بلکې غواړم چې د مدير کښدو چل زده کړم.

- چل دا دی چې لومړی د رئيس صيب پندك چې ځان مقرر کړه. د کوچنيانو چوشکونه يې ورته په خوله ورکوه، يو بوټ پاك او دريشي پاك هم په الماری کې ساته...

- په بوټ پاك او دريشی پاك څه وکم؟

- په دې به د رئيس صيب بوټان او دريشي پاکوې، بيا به وزير صيب ته پيشنهاد وکړي او چې وزير صيب پيشنهاد ومانه نو په هماغه ورځ درنه مدير جوړېږي.

له دې وينا سره زمونږ لوی مدير خپلو چپړاسيانو ته امر وفرمايه چې د لوی مديريت ميز دې بيرته خپل ځای ته انتقال شی. ميز يې رانه يووړ، خو زه بيا د خپل کوچنی ميز شاته ګښناستم او د پخوا په شان ميرزاکچکول پاتې شوم.

سخت قار راته راغی، ما ويل چې الکه لغړ وې لغړ پاتې شوې. داسې نه کښږي، راځه نبغ په نبغه له رئيس سه خپل حساب خلاص کړه. ما ويل سوګند مې کړی چې نن ځان مدير مقرر نه کړم نو نه کښږي بې د دروازې له ټکټکه د رئيس صيب په حضور مشرف ش . م، غاړه مې ورته پټه ونيوله او په کوږ اورمبږ مې ... ته وويل:

- قربان غواړم چې مدير شم ته په کې څه وايې؟

- (په خندا) مره ګفته بود که کچکول دیوانه شده، اینه به چشم سر خود دیدم.

- قربان کسی که میخواهد مدیر شوه دیوانه است؟

- مدیرا دیوانه نیست. خودت دیوانه شدی.

- اګه مدیر بودن دیوانګی است پس تو دیوانه بزرګ هستی.

- (په شدت) برو ګم شو، اوه خانه سامان! چه شدی؟ بیا ای دیوانه را بیرون بکش.

هغه وو قربان دی شم چې چېرته چپړاسیان مپړاسیان وو، مدیران وو او که کاتبان وو زه یې لکه د لوی مدیر د مېز په شاني د چار تراش غوندې په ځنځولی د رئیس صیب له دفتر نه وایستم او نېغ په نېغ یې د واز موټر باډی ته د کچالانو بوجی غوندې وارتولم، څو مې چې ځان ښوراوه بیا یې دارالمجانین ته رسولی وم، او په زور یې بستر کړم، ما چې هر څو چیغې وهلی، چې الکو زه مدیر یم، نه ډاکټرانو غوږ نیوه او نه هم نرسانو او په دې ډول یې زه د لېونې په نامه په چپرکټ پورې تینګ وټړلم، نو ما ویل چې الکه میرزا کچکوله چې بې چاپلوسۍ مدیریت غواړې نو عاقبت به دې همدا وي.

زوړ موټر

لکه د اوس په شان د کابل مخ په واورو باندې سپین شوی او په اصطلاح اسمان خپله سفیده په سمه او په غر باندې د وړولې وه، یخنې هم وار په وار زیاتیده، ونې غنې ټولې له سارو ربړبدلې، د بنار زیاتې کورنۍ د تودو شپو ورځو تبړولو لپاره تودو سیمو او تودو منطقو ته تلل، خصوصاً چې د رخصتیو ورځې به شوې، بیا به د موټرو په سرایو او استادګاوو کې د پنبې اېښودلو ځای نه و، هر چا کوښښ کاوه چې په تودو سیمو کې هم غوړونه تاوده کړي او هم زړونه. موږ څو تنو اندیوالانو هم تدبیر مدبیر، نقشه مقشه موجوده کړه چې راتلونکې جمعې شپه به موږ په ګډه یوې تودې سیمې ته ځو، خصوصاً زما (بارو) اندیوال خو له ټولو ملګرو نه دې سفر ته خوشحاله و، موږ په سفر تللي نه وو، چې هغه پېښبيني کوله:

ـ (په موسکا) ګومان کوم، که جلال آباد ته لاړ شو، ښه به شي، ډېرې ښې مالتې دي، د کبانو غوښې (په مزه) اوه چې څومره مې خوښېږي، چې لاړو حتماً باید یو چارك ماهیان وخورو.

ده لاخبره تمامه کړې نه وه چې د بل اندیوال سترګې پرې برګې شوې.

PROPERTY OF ACKU 8654

ـ (په شدت) یو چارك ماهیان؟ دومره غټ غټ خرڅونه مورِ نه شو کولای.

ـ (په شدت) پرېږده! پرېږده! یو چارك کبان په ځلورو تنو څه شی کېږي؟ خبر دی نیم چارك کبان اخلو نو یو پاو چپلي کباب هم باید ورسره وي.

ـ (په تردید) چپلي کباب؟ څومره بد ذوقه یې، چپلي کباب او کبان سره جوړېږي؟

ـ (په جنګ) کبان او چپلي کباب چې سره نه جوړېږي نو څه کوئ؟

- (په قار) یا به چپلي کباب خورئ او یا به ماهي، پوه شوی که نه؟

-(په جنګ) پرېږده! پرېږده! له تا نه د شړومبو مچ جوړ شوی دی.

- (په جګړه) چوپ، چې اوس به دې خوله درته سمه کړم.

ماورته وویل:

- (په سوله) واه الکو! تاسې ته وایم، جګړه مه کوئ!

خیر مورِ لا په سفر نه وو تللي، خو د سفر په باره کې مو څو خله جګړې او دعوې وکړې، یو وخت خو داسې هم وشول چې زمورِ د یو اندیوال سر مات شو، او مورِ په کتنځي کې پلستر کړ.

خیر د پنجشنبې یوه بجه وه چې مورِ ټول د ننګرهار د موټرو تم ځای ته لاړو.

مورِ د سفر اساسیه نه درلوده، یوازې یو تور چای جوش، یو د سکرو اجاق، درې پیالې مو له ځانه سره واخیستې چې کله کله به په تفریحي ځایو کې سماوارونه نه وو نو چای به نوش چانوو. خیر کله چې د موټرو تم ځای ته ورسېدو، نو په سروپسو او نورو موټرو باندې دومره بیرو بار و چې د ستنې اېښودو ځای پکې پاتې، نه و خو سرور چې په مورِ کې لږ عصري او په اصطلاح مودشن یې برابر و، غږ یې وکړ:

- ګمش کو، بیا ده تکسي میریم.

- سرور جانه تکسي ډېر قیمته دی.
- باش مه پرسان کنم (له لېرې) اوه، تکسي؟
- څه وایئ؟
- تا جلال آباد چند بتیم؟
- دربست په درې سوه اوغانیو بانید تاسې وړم.

ما ورته وویل:

- (په وارخطایی) سرورجانه دا موټر زوړ دی.

په دې کې تکسي والا په موسکا وویل:

- همداسې ښکاري، ماشین مې نوی ورته اچولی دی، که رنګ یې زوړ دی نوپه خوند کې جوړ دی.
- راس میکه، هر چه باشه، ما ره مېراسنه، بیائید بالاشوین.
- مورِ تولووویل:
- در ځئ چې څو.

موټر ته وختو.

ربنتیا چې درې سوه افغانی کرایه ډېره ارزانه وه او زمور د خوشحالی سبب شوه، مورِ څلور اندیوالان وو، درې نور هم په دې تکسي کې کېناستو، موټر لانه و چالان چې مورِ لاسونه پورته کړل چې (خدای دې خیر پېښ کړي).

تکسي ډېر سلفونه ووهل، خو چې نه چالانېده نو نه چالانېده، اخر موټروان غږ کړ.

- څو تنه کښته شئ او دا موټر ټیل وهئ، چالانېږي.
- ښه ده، دا دی کښته به شو.

مورِ څلور اندیوالان له تکسي نه کښته شو او د موټر په ټیل وهلو مو پیل وکړ، د کابل له پل محمود خان نه بیا تر مکروریان پورې مو ټیل واهه، څلور واړه په خولو کې ډوب شو، خو موټر چې نه چالانېده نو نه چالانېده، د سرور چې ارت خولې پتلون په تن کې و او پایځې یې ارتې وې، د موټر د ټیلې کولو په وخت کې یې بوټ د پتلون په پایځو کې بند شو او تر ځنګنو پورې یې درز وشلېده، د

خدای کړه وو، خو تکسي چې نه چالانېده نو بیا هم نه چالانېده، اخر زه چې ډېر ستړی وم، په وارخطایی مې وویل:

- دستمال نه لرئ چې دا خوله پې پاکه کم؟

- اینه، مه یك دستمال دارم.

- کور دې آباد، راکه

په دې وخت کې مې اعصاب خراب شول او خپل اندیوال ورته مې وویل:

- سروره! دا موټر نه چانلانېږي، زما یې کلمې وویستې، ځئ چې ورنه تېر شو.

- کمې صبر کو، چالان خاد شد.

خیر له پېښې نه تېښته نه وه، موږ باید لږ تر لږه له ډېرور سره کومك کړی وای چې موټر یې چالان شي.

ډ مکروریانو له پله نه بیا موږ څلور واړو د تکسي په تیل وهلو باندې پیل وکړ، څو قدمه چې لاړ، بلا وه برکت یې نه و، تکسي چالان شو، موږ څلور واړو په پوره وارخطایی ورپسې منډې شروع کړې، خو دا ځل له موټر نه راکټ جوړ شو، اوس درېږي نه، تکسي مخکې او موږ څلور تنه ورپسې ځغلو صبب! ځکه چې زموږ د سفر اساسیه پکې وه، لنډه دا چې موټر د یکه توت په برخه کې ودرېد، په تکسي کې مو ځان واچاوه، او څلور واړه څه کم دکوما په حال پکې ولوېدو، تکسي مخ په جلال آباد وخوځېدو، په جټکو جټکو تر ماهیپره پورې ورسېدو، کله چې د ماهیپر سرته ورسېدو، تکسي وان وویل:

- ورونو! کښته شئ! د موټر بریکونه چندان کار نه کوي.

موږ څلور اندیوالان بیا له موټر نه کوز شو، او هغه درې تنه نور له ډربور سره له ماهیپره په تکسي کې سپاره وو، موږ بیا د موټر شاشا ته په ځغاسته روان وو، چې یوه اندیوال په منډه منډه او په ځغاسته کې راته وویل:

- اوه، منډې مه وهئ! زه زیاتي له پښو ولوېدم.

بل انډيوال چې د هغه حالت ته وکتل چې له پښو پاتې دی، نو په وارخطايي يې وويل:

ودربړئ! ودربړئ!

زمونږ يو انډيوال ضعف وکړ او ما هغه په شا کړ، تکسي هم له ما هيپر نه د لاندې د بربښنا له فابريکې سره ولاړ و، مونږ څو هلته رسېدو، درېور او هغه درې تنو يوه يوه ډډه ځوب کړې و، چې ورسېدو، نو درېور مو له خوبه پاخاوه او بيا په تکسي کې سپاره شوو، ښه و موټر مخ په ځوړ روان وو خو کله چې دګوګا مونډې او د واوې څنګ کوتل ته ورسېدو، تکسي بيا په سلګيو شو، د کوتل لمنې ته لانه وو رسېدلي چې په اصطلاح په لبورس راغې. يا پيره بابا راورسېږې، څه چې زيارتونه وو، مونږ راولړزول خانونه مو له تکسي نه وغورځول، تايرونو ته مو ډبرې ورخطا کړې. "وايي چې مرګې ته وي راغلې څوک نه مرې" له مرګه خلاص شو، تکسي ودرېد.

د تکسي خاوند له مونږ نه وغوښتل چې په تکسي کې ارام کښنو، مونږ هم ګښاستو، او خپل سرنوشت ته مو سترګې په لاره وې، مونږ څلور واړه له خبرو هم پاتې وو، يو وخت چې ما سترګې وغړولې که ګورم چې زمونږ تکسي يې په يوې تشې لاړې پسې ترلې او په کوتل يې خبرې اوه لاړې تکسي په ځان پسې راکښنوده. خير چې له سروبي نه تېر شوو، هغه رسۍ وشلېده چې زمونږ تکسي او لاړې يې ترلې وو، لاړې روانه وه، خو زمونږ تکسي ځای په ځای ودرېد. د لاړې درېور چې ښايسته شېبه وراندې لاړ، نو متوجه شو چې رسۍ شلېدلې ده او تکسي ورنه پاتې شوې دی، هغه و چې لاړې بيا نيم کيلو متر لېرې ودرېده او مونږ بيا د تکسي په ټيلو وهلو پيل وکړ، هر څو چې مونږ د تکسي خاوند ته وويل چې زمونږ پيسې ببرته راکړه، ګله يې منله، خير بيا مو تکسي په لاړې پسې وتاړه، او مونږ چې په تکسي کې ناست وو، بيا مو حرکت وکړ، مانښام تيارې وه چې صيب جلال آباد ته ورسېدو، اوس چې هر څو دروازې خلاصوو چې

له ټکسي نه کوز شو او په سيل و صفا پيل وکړو، د موټر دروازې نه خلاصېږي، د ټکسي ډرېور ته د دروازو کسر مالوم وو، نو يې شېشه ټيټه کړه، يوه کراچۍ چې ترځنګ يې تېرېده ور غږ کړ.

- کراچي والا! خو تنه راټول کړه، چې دا موټر په کراچۍ کې بار کړي.
- چېر ته يې وړې؟
- ورکشاپ ته.
- تاسو خو ور نه کوز شئ.
- دروازې نه خلاصېږي.

بالاخره صېب ډرېور او کراچيوان خپل مراد ته ورسېدل، خو موږ نامردان لا په موټر کې نامراده پاتې شو، خو تنه جوالايان ښاريان او ترافيکيان له خيره سره مرستې او کومک ته حاضر او ناظر شول او له خيره سره موږ اوټکسي موټر يې يو ځای په کراچۍ وربار او نېغ يې ورکشاپ ته وړ انتقال کړو، خو متاسفانه چې د ورکشاپ مالك هم تشريف او مشريف نه درلود، دغه شپه مو له خيره سره په اتو کسو په يوه ټکسي کې تېره کړه او تر سبا پورې موږ د چرګانو غوندې په ناستې خوب کړی دی، او چې سبا شو، د ورکشاپ مالك راغی، موږ يې له دې علی العجاله بندي خانې يا ټکسي نه که خدای کول خلاص کړو، لو موږ هم په خلاصو وزرو په سيل او صفا شروع وکړه، نو په پارسو کې چې وايي: "ارزان بې علت نيست و قيمت يې حکمت نيست" حق خبره يې کړې ده.

ما جايزې ته ځان کانديد کړی و

زما نه تېرېږي، خو خاطرې نه هېرېږي، يوه زمانه وه، قربان دې شم، جار دې شم، څه مې ويل؟ رايـاد شول، ما وويل چې يوه زمانه وه، چې ناڅاپه د راديو د سپورت په خبرونو کې داسې خبر خپور شو، چې د (بوکس) لوبه يا د سوکانو وهلو عمومي لوبه شروع کېږي او په دې کې کواکې د بوکس قهرمان تاکل کېږي او څوک چې عمومي قهرمان شو هغه دې تا ته دې خدای خير در کړي پنځوس زره نفدې افغانې او يو د سرو زرو کپ ورته ورکول کېږي او بيا به نورو هېوادو ته د سوکانو وارولو لپاره له خيره سره سفر هم کوي.

نو قربان دې شم، جار دې شم، ما چې دا خبر واورېد، ډېر خوشحاله شوم، ما ويل الکه مورې خو له نسل نه تر نسل پورې سوکبازان يوو، نيا مې دې خدای وبښي، په سوکانو باندې به يې خپله لور يانې او زما مور وهله او مور مې دې خدای وبښي په سوکانو باندې به يې زما خور وهله، خور به مې په سوکانو باندې زه وهلم او ما هم په سوکانو باندې لېرې مو له مخې بې ادبي دې معاف وي وي خپله بنځه وهله او بنځه مې همداسې اوس په همدې سوکانو باندې خپل اولادونه وهي. خسر مې خوابنې په سوکانو باندې وهي او خوابنې مې خپل اولادونه په سوکاند باندې وهي، نو له دې نه مالومېږي چې زمورې کورنۍ غوندې سوکبازه اوپه اصطلاح

بوکسبازه کورنی هیچپرته نه شته، نو ما ویل الکه دا لوبه له تا نه څوك نه شي کټلی، په وړیا به له خیره سره د پنځوس زورو نغدو افغانیو او د سرو زرو د یو کپ خاوند شي، ځکه ته خو یو ارثي بوکس مین او سوك وهونکی یې، نو هغه وو قربان بلا دې واخلم، او بلا دې ورکه شه، زه هم نیغ د سپورت دفتر ته ورغلم چې هلته بوکسرانو یا سوك وهونکیو خپل نومونه د لوبې لپاره ثبتول، هلته چې ورغلم نو د سپورت د هغې زمانې رئیس صیب را نه پوښتنه وکړه:

ـ عفوه میخواهیم، شما ده کدام کلب، سپورت بوکسه تمرین کدین؟

- مه...، قربان...، د کلپ مادر خود.
- (په تعجب) د کلپ مادر خود؟ فامیدم، یعنې که شما یك کلب سپورتی دارین که به اسم مادر تان افتتاح کدین، همیتو نیست؟
- نه قربان! مه به نام مادرم کلپ نداریم، کلب بوکسری مه کلب خانګیست، ما کل ما مشتباز و بوکسرا هستیم، حت امو خورد ترك بچیمه هم ایقدر مشتبازه و ایقدر مشتا سرته بزنه که جان د جانته نه مانه.

(په تجعب) عجب اس، پس شا تمرین خانګی دارین؟

بلې بلې قربان، از مشت خوشویم، خدا ترا نجات بته، امتو از زنم، مادر کلانم و غیره و غیره.

پس شما حتماً خوده د مسابقه بوکس کاندید میکنی؟

- چرا نی، قربان! مه از اصل و نصب مشت زن هستیم، مه مستحق هستم که د مشت زنی خود را شامل سازم.
- خوب بسیا خوب، اسم ولدت به مه تشریح کو، که مه نوشته کنم.
- قربان، اسم بنده فقیرمیرزاکچکول مشت زن، اسم ولدمه ماما چپراسي مشت زن، اسم باباکلان مه بابا موچی مشت زن.

- خوب الی دگه تو برو، روز سه شنبه آینده تشریف بیار، با بوکسرا دگه مسابقه بته.
- کور دې ودان خانې تان اباد، با امان خدا.

دېر خوشحاله شوم، چې د سپورت رئیس صیب زما نوم هم د سوک وهلو په لوبه کې ونیوه، زړه مې غوښتل چې رئیس صیب ته یو رشوت ورکم، بیا مې ویل الکه وا به یې نخلي، په غم به ورسره پاتې شې.

خیر د رئیس صیب له دفتر راووتم. په لاره کې مې چرت واه چې الکه دا دېره مودہ وشوه چې تا او مېرمن دې جنګ نه دی کړی، نه دې د هغې سوکان خوړي دي او نه دې په هغې سوکان وار کړي دي، تمرین دې هم نه دی کړی، راځه مېرمن دې لېرې دې له مخې په خبره پوه کې، له هغې سره د سوکانو وهلو مشق او تمرین پیل کې، څو د سوک او بوکس وهلو لوبې ته تیار او تکړه شې، چې کور ته لاړم، ما لابوتان نه وو ایستلي چې مېرمن مې راباندې غږ وکړ:

- آمدی، خو ده ده مسابقه شامل ساختی؟
- بلی زن جان، فوراً علل عجاله، نام مه ده لست نوشته کد.
- چه گفت که مسابقه چې وقت شروع میشه؟
- میشه، که میشه قربان! مهه خبره دا ده که من و تو یک یکنیم ماه جنګ نکدیم، یعني بزن بزن تو ره ندیدم.
- مقصدت چیست؟ دلت اس که (به جنګ) باز مشت بارانت کنم؟
- بلې همدا اوس مې سوک باران که.
- مګم تو زاري نمی کدی، که دیګه مرا نزن.
- موضوع مسابقه مهم است زن، جان، باید مرا بزنی، تا طاقت مشت زن را داشته باشم.
- خو، اله مه هم ایقه بزنمت که کفایت از دانت سر کنه (زد و خورد شروع میشود).

- (په درد) اخ، واخ، کتـه بـوت مـه زن مـره، پـه سـوکانو مـې وهـه، مـا...، مـا....

نـو قربـان لـېړې دې لـه مخـې بـې ادبـي دې معـاف وي، مېرمـن مـې نه چپلکو ته کتل، نه بوټانو ته، نه يې سـيخ کـوت او نـه لـرګي، زه يـې وهلـم، د دې لپـاره چـې زه د بوکـس لوبـه وګټم او د بوکسـرانو د سـوکانو نـه و نـه وېرېږم، مېرمنـي مـې لـه اده او بـده وويسـتم، څلـور ورځې مـې تبه وه، لـېړې دې لـه مخـې مېرمنـي مـې ټول بـدن راتـه مـوړه مـوړه کـړی و، خـير کلـه کلـه بـه مـې ځان غـور کـړ، پـايځې بـه مـې بدوهلې خپلې مېرمنې ته به مـې ويـل:

- زن جـان.
- بګو چه کنـم؟
- بيـا چوبـه بګی ده حويلـي مـرا خـوب بـدوان.
- بـرای چـه بدوانمـت؟.
- دې لپـاره چې نفسـه مـه پختـه شـوه.
- خـو پېښ شـو ديـګه.

د مېرمنـي بـه مـې لـرګی پـه لاس وزه مخکـې هغـه راپسـې، د انـګړ لـه يـو سر نـه بـه مـې بـل سر تـه منډې وهلـې او لـه بـل نـه بيـا بـل تـه مېرمـن چې بـه مـې سـترې شـوه، نـو د انـګړ پـه يـوه کونـج کـې بـه کېناسـته، خـو زه بـه په خپـل سر تر هغـې پـه انـګړ کـې پـه منـډو سر وم، څو بـه ولـوېدم او ضعـف بـه مـې وکـړ. مجبـور وم چـې دغسـې شـاقه تمرينونـه وکـم، ځکـه چـې ځان مـې د بوکسـرې او سـوک وهلـو د لوبـې قهرمانـي تـه کـانديد کـړی و.

نـه مې د شپې خوب کـاوه نـه د ورځې. تـل بـه مـې چرت واهـه، چې کاشـکې دا د سـوک وهلـو پـه لوبـه کـې قـهرمان شـم او بريـاليتوب لـېړې دې لـه مخـې زمـا پـه نصيب شـي.

يـوه ورځ داسـې هـم راورسـېده چـې د هر ښاريـان پـه لوبغـالي کـې حـاضر وو، ټولـې دندانـې او زينـې ډکـې وې، بوکسـمښان او سـوک وهونکيـو ځانونـه لـوڅ کـړي وو او پـه نېکـرو کـې ناسـت وو، مـا نېکـر

مېکرنه درلود، خپل کمپس مې ایستلی و او په خپل پرتاګه کې لېرې دی له مخې، بې ادبي دې معاف وي بډوهلي ناست وم، د سپورټ رئیس صېب څو ځله راته وویل:

- بګي بچه مشت زنی ره شروع کو، خو ده معلوم کو.

- نه قربان مه کت امو اخری مشت زن بزن بزن شروع کوم. زه داسې سست او پست نه یم چې هر چا سره سوک وهل شروع کم.

خیر؛ قرباني دې شم، جار دې شم، خو بلا دې وانخلم، د لوبو په پای کې یو تن په سوک وهلو کې په ټولو غالب شو، چې دی ګویا زما حریف و، رئیس صاحب بیا راته وفرمایل:

- بګي دیګه، امی آدم فعلاً قهرمان مشت زنی شناخته شده، مسابقه رُه همرایش شروع کو.

رئیس صاحب لاخپله خبره نه وه خلاصه کړې چې هغه بېچاره قهرمان په انسانیت راته وویل:

- بیادرجان! ای سی کو!، اګه از مه قبول داری از ای مشت زنی دست وردارچرا که اوګار میشی، خداناخاسته زیر مشت مه نمری.

- زه وربانديې په قار شوم چې: بان، بان. ای ګپای ته مره غولاښده نمی تانه، مه کی ای پنجا هزار افغاني و ای کپ طلای ره از تو کمایی نه کنم، نمی مانمت.

خیر بلا دې ورکه شه، غم دې و نه وینم، هر چا چې زما وچو لینګیو او نري نري لاسو ته کتل نو راته به یې عذر کاوه، چې له مسابقې تېر شه، خو چې ما نه منله نو نه مې منله. یو ناڅاپه مې د پیشو غندې توپ کړل او د رېنګ میدان ته ورننوتلم، سوک وهونکی هم راپسې راغی، زه مخکې وم او هغه راپسې و، نندارچیان وو چې یو شور او غوږ یې جوړ کړ، اخر یې لېرې دې له مخې د رېنګ په یو کونج کې ایسار کړم، چې دا یو سوک یې راسره کړ د رېنګ له رسۍ نه یې هاخوا ګوزار کړم، او د شاه په تختې

اوږد وغځېدم، لږ چې مې طبیعت جوړ شو، بیا د رېنګ میدان ته ننوتلم. بیا یې چې په دا ګډه کې سوك راکړ، ما ویل چې ګوندې سوك یې زما د ملاد تیر نه هم وواته، کورنج مړنج ځای په ځای کښاستم او تماشاچیان بیا له خندا نه شنه واوښتل، کله کله به غږ پورته شو چې:

- افرین افرین.

ما ویل چې ګوندې البته دا افرین ما ته راکوي، بل ځل بیا ور جګ شوم، دا ځل نو د سوك وهلو قهرمان ته قار ورغی له ځمکې نه بې جګ کړم بیا به یې په سوك ووهلم او پورته به یې واچولم کټ مټ لکه جنګي فلمونه خو به دې لیدلي وي؟ دغسې ساعت یې په ما هم راوست. لږې دې له مخې یو سوك یې زما په پوزه برابر شو. د سر ماغزه مې ګډ وډ شول. بیا نو زه هم په ځان نه یم پوه شوی، په تسکره کې یې اچولی یم، امبولانس ته یې رسولی یم، او له هغه ځایه یې روغتون ته انتقال کړم. مېرمن مې هم هغه ورځ زما نندارې ته راغلې وه، ویل یې که خاوند مې لوبه وګټي نو پنځوس زره افغانۍ او طلایي کپ به زه ور نه واخلم. خو په تاسف سره یې ولیدل چې زه یې روغتون ته بوتلم.

دري ورځې بې هوښه وم، په ځلورمه ورځ مې بې ادبي دې معاف وي خپله مېرمن ولیده، چې په روغتون کې زما دچپرکټ په بازو ناسته وه، کله چې وپوهېده چې زه بېدار شوی یم، نو راته یې وویل:

- مسابقه ره خو باختی، بینی ته هم باختی، بینی ته یکی د رویت اوار شده، چخپیت شده.
- می فافم مه مشت زنی تره دیده بودم، از بوکسر خبر نداشتم، مه حالا فامیدم که مشت زنای قوی دیګه هم موجود است.

ښځې مې راته په خندا وویل:

- کس کې بېجا مېدوه بینیش بریده میشه.

وايي که نښه وګړې، نښه به ويني

يوه زمانه وه چې ما به له سين ډيرو اورېده چې نښه کوې نو نښه به ويني، خو د ځوانۍ زمانه وه، زه نه پوهېدم، نه مې نښو کې چرت واهه، نه په بدو کې، خو دغه تجربه مې هغه ورځ لاس ته راوستله، چې واوره اورېده مګر په لېټۍ ککړ شوم.

نکل داسې و، ګرانه د زړګي سره چې زه د بريکوټ نو آباد د سروبسونو تم ځای ته به لړزېدو، لړزېدو راورسېدم، ډېر سخت شمال و، واروه هم په تندۍ اورېده، ما ويل هر څنګه چې وي بايد ځان سروبس ته غوځار کړم، چې هم تود شم او هم ځان له خيره سره خپل کور ته ورسوم، څنګ ته مې يوه بوکره داره نښځه ولاړه وه، موزې يې په پښو وې، نه چندان زړه او نه ځوانه مالومېده، يو دم يې راته غږ کړ.

- بيا در جان مه کور هستم، از خيرت کده ده اولب سرك مره ببر.

ما ويل الکه په خير پسې ګرځېدې رب نېغ په نېغه درته پېښ کړ، که دې نښځې سره دې دغه مرسته وکړه نو لوی خدای به دې اتيا مرستې مخې ته راولي نو هغه وو چې دا تورسرې مې له لاسه

ونیوله، ښځه بېچاره هم لکه نابلده، پښه نیولې، پښه نیولې راسره وخوځېده، په لاره کې به يې را نه پوښتنه کوله.

- بیادرجان پښ روی مه خو جوی نیس؟ ،

په ډاډ مې ورته وویل:

- نه بي بي جان! جویه ویران میکنم، که پیش روی مه و تو بیایه، پاك و صاف سرك اس قربان.

بیخي مې یقین راغی، چې ولا د ترور لور ړنده ده، زړه مې پې لازیات وخوږېده، په نرمه نرمه په استا برو استا برو مې له سړکه بلې غاړې ته کړه. موږ چې ستا په دعا او برکت پورې وتو او ښځه بي بي مې د موټرو تم ځای بوتله. ما ویل: الکه که خدای کول یو خیر خو دې په دې ښځې بي بي وګاټه، ګوندې بدله یې وویني، ښځې بېچاره هم خپل لاس زما لاس کې راکړی و تر هغې غلې او ګونګه ولاړه وه جې یو دریشي کړی سړی راغی، د ښځې سترګې چې په درشي کړي ولګېدې نه یو ناڅاپه په ژړا شوه او په ژړا سر شوه.

- بګیریش بچیم، خوب شد که آمدی، اینمی آدم کیسه بر اس، پنجصد افغاني وه از جیبم بریده.

دریشي کړي سړي د واره زه له لاسه ونیولم او وار له واره يې یوه پخه څپړه په دا مخ راکړه، مخ خو مې هسې هم یخ شین کړی و، خو څپړې تور بانجان واړاوه او په قهر يې راته وویل:

- بد بخت بی حیا نمی شرمی... که ازی زن مظلوم کیسه بری میکنی؟ ولاکه بانمت، هم پولی از زي زن را اذیت میګیرم، هم به قانون.

ما چې د دریشي کړي سړي غور او پش ولیده، له وېرې مې په زړه کې تبه رانوتله، ما ویل یا پیر بابا راورسېږه، دا په څه سرپښو وربرابر شوم، نو مې په زاریو او عذرو د دریشي سړي ته وویل:

درښي کديکی ماما! ولاکه مه کيسی ازی زنه بريده باشم، ای زن خو مره ګفت که کور ستم، مره او لَب سرك ببر، مه هم آوردمش بنځه بيا د مکاري پيشو غوندې په چيغو سر شوه.

- سر اولاده بخورم، سری خود بخورم، سر پدر و مادره بخورم، که ای دستی جيب مره زد و مه هم قايم از دستش ګرفتم او نه خوب شد که خودت آمدی...

او زن جان او راستی همشېره جان مره خدا جوانمرګ کنه، پدر و مادرم جوانمرګ شوه که اګه مه جيبی ته ديده باشم، که در کجا اس، تو چرا مرا...

ورك يې که، صيب څه به سرخوړی درته پيدا کوم، الله دې له زرو بلاوو نه او له دغسې شيشکو بنځو نه وساته چې هر څه مې عذر او زاري کوله په دېوال يې تاثير کاوه په دې بنځې يې نه کاوه؛ داسې بغاړې او رمباړې يې جوړې کړې وې چې تا به ويل خدای مه کړه يا يې زوی مړ دی او يا يې مېړه. مخلوق د خدای يې راباندې تول کړی و، زړه کې مې ويل، ما ځانته خير ګاټه، نر غوندې په شر واوښتم، خير د پيرانو په برکت او د دوستانو په دعا پنه راغونډ شوو کسانو کې يو هوښيار سړي غږ وکړ:

او همشېره چند ته ای مرد که ګرفته؟

- (په ژړا) پنجصد، خودمه حساب کديم، د شار مې رفتم که پياز و کچالو بخرم (بيا ژاړي).

- ای تو خو کور بودی خوار جان، بازار چطور...

- (هم ګريه هم دعوه) کور مادرت اس، کور خانمتس، کور خودت.

خير د کاکا زويه! هوښيار سړي امر وکړ چې ما تالاشي کړي، يوه نفر زما د واسکټ جيبونه د کميسه جيبونه تول لاندې باندې کړل ايله دوه زاړه لس ګونه او تا ته دې خدای خير در کړي يو شل ګون بل يې زما دتذکرې په قات کې پيدا کړ، هغه هوښيار او بختور سړي بنځې ته مخ واړاوه ورته يې وويل:

- ای بیچاره ره چرا ازار میتی، خودش از مفلسی میمره.
- کاکا جان! حتماً لوټای مره قروت وکده جوپده د شکمش اس.
- (په قار) بس، بس اضافه دګه خوده سبك سبك نکو، دلت اس که شکمشه پاره کنم.

ما ویل یا پاکه خدایه ورحمټې چې اوس مې څوك په پنځو سوو افغانیو کولمې کوتې نه کړي خو خدای رحم وکړ، څو تنو دا فیصله وکړه چې خپل څلوېښت اوفغاني ښځې ته ورکړم، هماغسې مې وکړ، څلوېښت اوفغاني مې د هغې ښځې په ګوتو کې ورکړې او ما خپل پتو په خپلو غوږو ټینګ کړ، او پلی پلی مخ په کور وخوځېدم، په لاره کې ایله دې نتیجه ته ورسېدم.

څوك چې ناکسانو ته خیر رسوي په شر شو به اوړي.

حمام ته ټک هم يو هنر غواړي

حمام ته ځينې کسان له مجبوريته روان دي او ځينې له هوسه ورته ځغلي، يانې داسې کسان هم شته چې په کورو کې ښه عصري تشنابونه چې هم شاور لري او هم ماور، مګر بيا هم چې د جمعې په ورځ حمام ته لاړ نه شي ځان ورته ګرکۍ ښکاري، دا ډول کسان حمام ته ټک کې هم تظاهر کوي، مثلاً د جان خوشکی په نوم لوی رويپاك واخلي. عصری صابون، څه شامو مامپو، له کيسې او ليف سره په پلاستيکي سطل کې واچوي، لويه ورښمينه چپنه غاړې ته کړي، د کور څپلکې په پښو کړي او دريشي خواب کې قدم زده قدم زده مخ په حمام وخوځېږي او د نومړې حمام ته چې ورننوځي نو په غرور غرور ناستو کسانو ته ګوري، چې ګواکې زه هم حمام کوم او چې له حمام نه بېرته کور ته ځي، نو سبحان الله پوز يې ترلی وي، چې شل مټره لېرې ګرد او غبار ووينې دی ورنه منډه اخلي. ما په عمر کې حمام نه و ليدلی، دا کيسه نبايسته ډېره پخوانۍ ده. زه اطرافي سړی وم، نه له حمام سره بلد وم او نه له سينما سره، نومونه مې ورته اوږدلي وو، خو ليدلي مې نه وو، يو وخت چې زه ښار ته راغلم، دلته ميرزا مقرر شوم او په اصطلاح په تنخوا سپور شوم، هلته چې خپله سيمه کې مې يوه زړه مور او يوه کشره خور پاتې وه.

مـا ویـل چې هکلـه دا دی اوس خـو شـکر مـیرزا مقـرر شـوی یـې، نـو دا خپلـه خـور او مـور هـم راوغـواړه، کـه نـور څه نـه وي نـو د ښار د کچـالو خورلـو سـره خـو بـه اموختـه شـي، نـو هغـه وو چې هغـوی مـې هـم را وغوښتـل. خـیر په مـور باندې شـپې او ورځې تـیرېدې او زه کـرار کـرار هوښیـاربدم، خـو داسـې هوښیـار نـه لکـه د ښار هوښیـاران، مـګر چنـدان بـد هـم نـه وم، یـانې شـلغم تـول نـه خـرڅېدم، خـیر کلـه چې بـه خیرن شـوم، زه بـه هـم د بریکتـوټ د هلکـانو سـره جمعـه پـه جمعـه سـین تـه تلـم او لمبـل بـه مـې، زمـا انـدیوالي لـه کـوچنیـانو سـره ځکـه وه چې زمـا سـن او سـال خلـك ټول معتـبره وو، زمـا سـره یـې ناسـته ولاړه د ځان کسـر شـان بالـه؛ نـو چې د جمعـې ورځ بـه شـوه، د کـوڅې کـوچنیـان بـه ډلـه ډلـه راغلـل، زه بـه یـې لـه کـوره وویسـتم، سـین تـه بـه لاړو، بلـه ورځ مـې مـور راتـه پـه قـار شـوه او راتـه ویـل یـې، الکـه مـیرزا کچکولـه! سـپین ږیری سړی یـې، تـه لااوس هـم د کـوچنیـانو سـره لوبـې کـوې؟

- څه وکـم مورجـانې! دوی مـا سـین تـه بیـایي او هلتـه مـې لمبـوي، کـه دوی نـه وي نـو مـا څوك سـین تـه بیـایی؟

- (پـه توندی) پـه خپلـه نـه شـې تـلای، چې د ماشـومانو سـره سـین تـه ځې؟ سـترګې دې وڅـورې، تـه پـه کـوچنیـانو ځان سـاتې؟

- (پـه وارخطایـی) نـا، نـا، مورجـانې! زه پـه کـوچنیـانو ځان نـه سـاتم، بلکې کـوچنیـان مـا سـاتي.

- (پـه توندی) هـر څنـګه چې وي، نـور لـه کـوچنیـانو سـره مـه ګرځه، ټول کـوڅه وال درپـورې خـاندي.

نـو لمبـل بـه څنـګه شـي مورجـانې؟

- وایـي چـې دلتـه ښـه حمامونـه دي، سـړی پکـې ښه پـاکېږي، بـاید تـه هـم حمـام تـه لاړ شـې.

مـور مـې مجبـور کـړم چې وروسـته لـه دې بـاید زه حمـام تـه لاړ شـم، خـو زه پـه حمـام کـې نـابلده وم، تـوره بـلا راتـه ښکـاربده. خـیر څو میاشـتې زه سـین تـه لاړ نـه شـوم، ځکـه چې مـور مـې نـه پـریښـودم، لـه خـیرو نـه لاسـه مـې غوږونـه پمـن شـوي وو او لاس او پـښـو مـې هـم د

ګرګیانو غوندې کوولي نیولي وو او غاړه خو مې پرېږده چې د تا دیګی غوندې نیکاړه اخر مجبور شوم چې حمام ته لاړ شم، د پنجشنبې ورځ زه له دفتره د وخته رخصت شوم، مور مې چې زما د لاس او پښو خیرو ته وکتل نو راته ویې ویل:

- کم بخت نه شې کچکوله زویه! دا لاس او پښې خو دې ووینځه، که مېلمه راشي او ته ورسره په دې لاسو ډوډۍ ته کښېنې، هم به ځان وشرموې او هم به کور او کلی.

مور مې ربنتیا ویل، یوه بله شپه زما یو بل میرزا اندیوال مېلمه شوی و، ما چې خپل لاس ته وکتل، نو د خیرو له لاسه مې خیل لاسونه و نه پېژندل، ما ویل چې البته دا لاس به د ګلو زوغال فروش وي.

نو یو ناڅاپه مې مور ته غږ کړ:

- مورجانې! دا لاس د چا دی؟ چې زما په تخرګ کې شین شوی دی؟!

- بنه و د مور مې فکر نه و، چې خپل لاس مې چوندۍ کړ درد مې حس کړ، نو وپوهېدم چې لاس مې خپل دی.

اخر یې مې له لاسه دسمال وتاړه او په قاشقه مې ډوډۍ وخوړه مېلمه ته مې وویل چې لاس مې زخمي دی، خو په هر صورت مور مې بیا تینګار وکړ چې:

- سبا د جمعې ورځ ده باید ارو مرو حمام ته لاړ شې.

- مګر زه نابلده یم مورجانې!

- پروا نه کوې! ورشه د کور خاوند ته ووایه چې له تا سره لاړ شي.

زه هم مانبام د خپل کور خاوند ته لاړم، هغه ته مې عذر وکړ او په پته غاړه مې ورته وویل:

- صیب قربان دې شم، که ما سبایي له ځان سره حمام ته بوځې نو ډېر به درنه خوشحاله شم.

- (په غرور) زه څنګه تا حمام ته بوځمه؟ ملا خو دې نه ماتېږي، دوه اوغانۍ د حمام پیسې نه شې ورکولی؟

- قربان پیسې ورکوم، خو زه نابلده یم، یواځې نه شم تلای.

- بنه ده سبا به دې بوځم.

زمونږ کور والا وپوهېده چې زه ډېر احمق سړی یم، نو یې د کور بانګې راته په اوږه کې راکړ او راته یې وویل:

- یوځو لاړې اوبه مونږ ته راوړه، چې بیا دې سبا حمام ته بوځم.

بلا دې ورکه شه، د دې لپاره چې ما حمام ته بیایي، لس لارې اوبه یې راباندې وچلولې، ما هم د خپل کور والا اودان له اوبو ډک کړ، تشنابونه مې ورته ووینځل، دچرګانو کوټه نې یې غورځېدلې وه، په هغه مې ټوله شپه کار وکړ، ځکه چې زه یې سبایي حمام ته بیولم.

خیر سبا له وخته لا په اسمان کې ستوري ځلېدل، چې زه حمام ته د تګ په شوق له بسترې نه پاڅېدم، څادر مې واغوست او سوټ بوټ د خپل کور خاوند د کور مخ ته لکه ملنګ غوندې کښاستم، دوه دوه نیم ساعته وروسته د کور خاوند راووت، هغه دمخه زه ورپسې حمام ته لاړو. چې په حمام ننوتو، زمونږ د کور خاوند د شوندو لاندې راته وویل:

- زه نومره یې حمام ته ځم، ته دغه عمومي حمام ته لاړ شه.

- بنه قربان! زه به عمومي حمام ته لاړ شم، ربنتیا عمومي حمام کومه دی؟ ز...

- (په توندۍ) نه ګورې؟ دغه مخامخ عمومي حمام دی.

- بنه صیب:

زه عمومي حام ته لاړم، زه خو نه په نومره یې پوهېدم او نه په عمومي، خو عمومي ته لاړم، هلته چې ورغلم یو عالم خلك نور هم وو، چا نوی خپل ځان لوڅاوه او څوك له حمامه راوتل او کالي یې اغوستل. ما به سترګو لاندې کله یو او کله بل ته کتلې اخر دحمام شاګرد راغې او راته یې وویل:

- (په دري) بکش کالای ته، چرا استاد هستی؟ نی که کیسه بر هستی، چه بلا..؟

- (په وارخطایی) نه قربان، زه حمام ته ځم.

- که حمام میری، کالای ته بکش.

زه ووېرېدم چې ماوس د کیسه بر په نامه و نه نیول شم، ما هم ژر ژر څپلی ووېستلې، کرتنی او واسکټ مې لېرې کړل، کمیس مې ویوست، پرتوګ مې هم ووېست، خو شاګرد وپوهېده چې زه نابلده یم، جامې او څپلی یې راته ټولې کړې، ما ته یې دوه د لرګیو نومرې راکړې، ویل یې چې دا واخله، ما ویل چې په دې نومره به سړی خیرې پاکوي، نومرې مې د ځان سره حمام ته ننویستلې، نه مې صابون درلود او نه په کیسه میسه بلد وم، د حمام کونج کې بې موره زوی غوندې کښناستم، دواړه نومری مې راواخیستې ما ویل چې ګوندې دا یوه د پښبو د خیرو لپاره ده او دا بله نومره د لاسو ده، په دې ډول مې د لرګیو نومرې لاسو ته ونیولې او خپلې خیرې او کوولې مې ورباندې لېرې ګول. پښې مې هم په هابلې نومرې باندې پاکې کړې، هلته یو صابون ایښی و، ما ویل البته دا به د حمام صابون وي، هغه مې راواخیست خپل ځان، سر او مخ مې ورباندې صابون کاري کړ، زما ټول ځان د صابون په کف او قف باندې پټ و، سترګې مې هم پټې وې. چې یو تن په بکس ووهلم. لاندې ځمکه هم بنویه وه، دتیر غوندې چار پلاق وغورځېدم، چیغه مې کړه، څه صابون مې په خوله ننوت او څه هم په سپږمو، سترګې مې وازې کړې چې سړی وپېژنم، قربان سترګې کې مې هم د صابون ځګ ننوت، هر څوک به راته او یوه یوه لغته به یې وهلم او ویل به یې صابون دز صابون دز. زه څه پوهېدم چې صابون د بل چا وو، نو ځکه یې ورباندې کرت جوړ کړم. خیر هومره وهل که سندا هم خوړلی واي اوس به یې هډوکې پاتې نه وای، خو وایي چې انسان له ګله نازك او له کاني کلك دی، زه له مرګه خلاص شوم، خو په بل

مرګ واوښتم، له حمام نه توک توک چې سر مې هم مات و راووتلم، لاړم حمامي ته چې جامې مې واخلم، هلته شاګرد راته وویل:

نمره ره بتۍ!

نومره څه شۍ وي؟

امو دو نمره که ما برت داده بودم، یکۍ از لباست بود یکۍ از بوتایت.

له دې وینا سره وپوهېدم چې د حمامي شاګرد هماغه د لرګو نومرې بنیي، چې ما ورباندې د خپلو لاسونو او پښو خیرې او کوولي پاکول، هغه هم د حمام اوبو را نه وړې وي، چې زه شوم او هغه شو، جامې یې راته را نه کړې اوویل یې:

نمره نه باشه، کالاره برده نمۍ تانی، ما چه خبر که کالا از تو است یا از دیکه کس.

هر څه که ما چیغې کړې چې اخر زه خو هم دې حمام ته لوخ لنډغر نه وم راغلی، چا راسره منله، وپوهېدم چې باید په حمامي عرض وکړم. نو لوخ لنډغر چې اوبه رانه څخېدلې په یو لنګ کې مې ځان مامورېت ته ورساوه. هلته چې پولیسانو زما وضعه ولیده، تول وترهېدل او زه ورته بلا غوندې بنکار شوم. څو تنه رانه تاو شول، سوټ بوټ یې ونیولم او مامور ته یې ودرلوم، ما چې مامور ولید، خوشحاله شوم او خپل عرض او داد مې ورته شروع کړ:

- (په عذر) قربان دې شم، مامور صیب حمامي رانه جامې څپلې واخستلې اوس یې نه راکوي، زه یې لوخ لنډغر پرېښودم، دغه مې حال دی.

د خدای لپاره عرض مې واوره زما داد ته ورسېږه.

مامور چې زه لوخ لنډغر په یوه لنګ کې ولیدم، په ما یې د لېونې ګومان راغی، هغه چې تر اوسه پورې په سړه سینه راته لاندې باندې کتل نو په سړه سینه یې راته وویل:

- دې پر ژر به دې داد ته ورسېږم. هغه وو، قربان چې زه یې پولیسانو ته په لاس ورکړم، او نېغ یې دارالمجانین ته بوتلم او پوره

دوه میاشتې او یوولس ورځې په دارالمجانین کې پروت وم، خوشحاله په دې وم چې د لنګ په ځای مې د دار المجانین جامې په غاړه کې وي. خیر د مور دعاوې مې راپسې وې چې دوه میاشتې وروسته پروفیسور راغی لېونیان یې چک کول او لیدل یې. هغه ته مې د حمام تولې کیسې وکړې، هغه وپوهېده چې زه لېونی نه یم، نو رخصت یې راکړ او زه دوه میاشتې او یولس ورځې و وروسته د دارالمجانین په جامو کې کور ته راغلم، دا و زما د هغې زمانې سرګذشت چې کلونه کلونه پرې تېر شوي خو زما له یاده نه وځي.

ما ولې تقاعد وکړ؟

قربان دې شم، بلا دې وا نخلم، تا سره دې نیکي چارې مل شي یکه راس یې زه د اوراقو یا د ارشیف مامور مقرر کړم، دا څانګه د پانو او اوراقو ګدام و. په اصطلاح له ادمه تر دې دمه پورې څه مکتوبونه استعلامونه، پېښنهادونه، دوسیې موسې چې وې په دې څانګه کې په درمند پرتې وې، الماری ګانې خو پرپرده، چې په چتو کې یې هم دوسیې منډل شوې وې، رئیس صاحب اداري زما د مقرری په لومړی ورځ راته وویل:

- اینه بچه! بدون شرینی مقرر شدی، بریت هدایت میتم که نیم ورق ارشیف تا و بالانه شه. (په قهر) اګه شد تنخایی ترا د بالا میارم و بالایته تا میبرم. فامیدی؟

- (په وارخطایی) بلې بلې قربان (البته میشه) هغه دي قربان موږکانو ته ګوره! موش، بلی بلی قربان موش اس.

- پروا نداره! اګه دیدی که موشها خرابکار اس، بریم اطلاع بته، دندانهای موشهاره بریت میکنم.

فامیدم قربان!

نو بلا دی ورکه شه، له دې ورځې نه وروسته زه د ریاست د اوراقو او ارشیف مامورګی مقرر شوم. په دې څانګه کې یو وړوکی

د پالوده خوری مېز غوندې یو مېز ایښی و، یوه وړه څوکۍ یې شاته پرته وه، زه لاړم په څوکۍ کښناستم. ربنتیا لومړی مې مبارکه کلمه وویله، بیا په څوکۍ کښناستم، ما ویل که خدای یې راته بختوره کړي، لنډه دا چې د دفتر زاړه او نوي کتابونه مې واخیستل، ما ویلې الکه وګوره چې په دې څانګه کې څو دوسیې دي، څونه مکتوبونه دي او د کومو کلونو اجراات پکې خوندي شوي دي؟ په کتابونو کې مصروف وم چې لاندې د بوتانو په پوزو کې مې کړپهار شو.

ووېرېدم ما ویل الکه ماران دي که څه؟ له وېرې نه د مېز په سر وختم، له مېزه مې لاندې توپ کړ او د سترګو په رپ کې د شعبې له دروازې ووتم، په شعبه کې پرته له ما نه بل هېڅوک نه وو، د اوراقو شعبه هم د موسسې په تازمینی کې وه، خبر چې له شعبې نه وتښتېدم، د شعبې دروازه مې نیمکښه کړه، ورو ورو مې کله کشک وکړ، چې وګورم په شعبه کې ماران دي که بنارمار؟ هر څو مې چې سترګې واړولې راواړولې سترګو ته مې څه شی رانغلل، کرار کرار ورو ورو پل مانده بیا شعبې ته ورغلم، او په ډېر احتیاط سره خپلې څوکۍ باندې کښناستم، ناست لا نه وم چې خرپهار مې تر غوږو شو، داسې خرپهار، قربان لکه چې خوسی شوتله خوري غوږ مې چې ونیو، وپوهېدم چې خرپهار له الماری نه راځي ورو ورو په احتیاط احیتاط الماری ته ورغلم، په کرار مې د شعبې د الماری دروازه خلاصه کړه چې د دفتر الماری مې خلاصه کړه، دوه غټو غټو مړو له الماری نه مخ په ما راتوپ کړل، په ما یې له وېرې نه رښا روځ تورہ شپه کړه، دومره شوخ موږکان ما نه وو لیدلي، یو توته به چې را نه وتښتېدل، بیا به راته ودرېدل، برګ برګ به یې راته وکتل، زه به وېرسې ورغلم، بیا به موږکان قدم زده قدم زده رانه وخوځېدل، لږ وروسته به بیا راته ودرېدل، زه وپوهېدم چې الکه دا موږکان دې مسخره کوي راځه اداري رئیس صاحب ته ورشه، د موږکانو د شوخیو، سپین سترګیو او ورانکاریو شکایت ورته وکړه

او اطلاع ورکړه. نو نېغ د رئیس صاحب اداري دفتر ته ورغلم او دروازه مې خلاصه کړه ورته مې عرض وکړ: قربان دې شم رئیس صاحب اداري! یا ما موقوف کړه، یا دا موږکان زما له شعبې ورک کړه، زما او د دوی ګذران سخت دی.

چرا موشها چې کده؟

- (په عذر) قربان! بوتان مې چیچي، دوسیې او کتابونه خوري او بیا توکې او مسخرې هم راباندې کوي، زه خو د موږکانو مسخره نه یم، زه یو مامور سړی.

- (په شدت) الی چې میخایی؟ با تو چه معامله کنم؟ با موشها چه معامله کنم؟ ګپه کوتاه کو.

- قربان رئیس صاحب! اګه چاره موشها نه شوه، زندګی مه ده خطر اس، حتماً مره هم امي موشها میخوره.

- حالی برو، مه ده حصه موشها تجویز میګیرم، تجوزیز، تجویز...

تجویز دا و قربان چې د رئیس صاحب اداري په شمول ټول عمومي مدیر صاحبان سره جرګه شول او د موږکانو په باره کې دوه ورځې سر په سر مجلس جوړ شو. اخر فیصله وشوه چې لس دانې تلکان او یو چارك مرګ موش دې د اوراقو څانګې لپاره خریداري شي. پوره یوه یوه نیمه میاشت وروسته یې تلکان او مرګ موش راته وسپارل اوزما په جمع کې یې قید کړل. بلا دې واخلم، د ارشیف او د اوراقو د څانګې موږکان دومره کمزوري نه وو چې د تلکانو زور پې ورسېږي.

هره مره یې د مېږې په شان غټه وه چې رسی دې په غاړه کې ورته اچولې وای کمزوري سړی یې په ځان پسې کشاوه.

خیر ما هم مازیګر تلکان په شعبه کې سپاره او عیار کړل خو چې سبا راغلم ټوله شعبه مې لټ په لټ کړه یو تلك مې پیدا نه کړ ټول تلکان موږکانو ځان سره خپلو سورو ته انتقال کړي و. وارخطا شوم، ما ویلې الکه موږکانو پسې دې بلا وي، خو د تلکانو له غمه

ولاکه خلاص شې، دفترونه مفترونه دي، ولاکه پرېږدي، خیر قربان ځان مې غلی ونیو، مرګ موش مې په ټول دفتر کې وپاشل، ما ویل که خیر و، نو اوس به د موږکانو مړي لاس ته راشي، په ټبره د هغه موږکانو چې تلکان یې ځان سره وړي دي، خو خواري مې اوبو یوړه. د مرګ موش دوا جعلي وه. که څه بلا؟ موږکان یې لاپسې چاغ او قوي کړل، پخوا یې که دري دري دوسیې خوړلې نو اوس به یې په شپه کې څلور څلور پنځه دوسیې کتابونه ژوول، سر به دې څه خوږوم، وپوهېدم چې د موږکانو په شر کې ګیر یم، نو بیا خپل رئیس صاحب ته عارض شوم:

- (دروازه خلاصوي) رئیس صاحب! سلام علیکم! زه یې صیب تر دوه سپږمو پورې راوستی یم.

- باز چه ګپ اس اونه تلکها ره بریت خریدم، مرګ موش بریت ګرفتم، دګه چه میخایی؟

- قربان، په یوه یې هم چاره و نه شوه، موږکان دومره غټ دي چې تلکان یې له ځان سره یوړول، د مرګ موش دوا ورته زندګي موش وګرځېدله، که د یو موږک تول پخوا یو چارك و، اوس نیم من شوی دی.

چاره چیست؟

قربان نه پوهېږم، دونه درته وایم، که د موږکانو چاره و نه سنجول شي، دفترونه خو پرېږده چې الماری او میزونه به هم وخوري.

- (په شدت) بلا زدیت، چو به بګی ده کله کله موشها بزن اګه میګی او نه شوکاری هم بریت میتم.

- قربان، مه با موش مجادله نمیتانم، مه خو پشك نیستم.

- خوب شد یادم آمد. او نه شش دانه پشك بریت توسط چپراسیها پیدا میکنم د شعبه اموختیش کو، که کل موشها ره از بین ببره.

- صیب او نان پشکها چطور مه شه.

- خدماته میکم، که پشکهاره در لست نان خوره یی مامورین داخل سازه، و ماکولات برایش خواله کند.

- بنه قربان.

په دې ډول شپږ دانې پېشوګانې له بیرونه راوړې شوې او شپږ واړه زما په جمع کې قید شوې، زه په دفتر معاملات کې درې نرو او درو بنځو پیشوګانو ته تسلیم شوم، له ما نه بله وظیفه پاتې شوه، بس زه وم او د پیشوګانو ساتنه هره پیشو چې به له دفتره وتله زه به ورپسې وم، چې ورکه نه شي، زما د دفتر برګه پیشو ډېره کلانکاره وه، هر سهار به د چکر لپاره ان د ریاست له تعمیره د باندې وته، زه به هم ورپسې وم، پیشو، پیشو، پیشو پیشو به مې ورته ویل، په سلو عذرو او ننوانتو به مې برګه پیشو ببرته دفتر ته راوستله، د دفتر ور به مې په پیشوګانو پسې قفل کړ او زه به د دروازې په خولې کې ورته لاس تر زنې ناست وم، چې دننه په شعبه کې به ترپ او تروپ شو، زه به خوشحاله شوم چې الکه کچکوله ارشیفه ولاچې پیشوګانو له موږکانو سره غږېږې نیولې دي، نو ما به ورته د دفتر د دروازې شا نه خپلو پیشوګانو ته غږ کړ:

- مه یې پرېږدئ! ویې نیسه! بنه یې څملوه، چې درنه خلاص نه شي! قورت غوندې یې وسولوه، دا ډېر ورانکاري موږکان دي.

بس نو دغه زما ماموریت و، د ارشیف میرزایي مې د پیشوګانو میرزایي ته واوښته یوه ورځ چې مې د دفتر دروازه سهار له خوا خلاصه کړه، کتل مې چې د دفتر یوه پیشو مړه ده او نیمه تنه یې نه شته، وپوهېدم چې په دې پیشو باندې څو موږکانو حمله کړې، پیشو یې راته وژلې او بیا یې داسې تکر تکر کړې ده، د پیشو مړي مې دفتر معاملات ته یوور، چې زما په خرڅ یې مجرا کړي او پیشو په داغمه مال کې حساب کړي یو میرزا راسره نه منله خو په سل عذر او زاري مې پیشو په خپل خرڅ مجرا کړه بله ورځ برګه پیشو ژوندۍ ورکه شوه جنسي شعبو ته چا اطلاع ورکړه چې برګه پیشو

ورکه ده، د برګې پیشو د ورکېدو له املې لس ورځې تر تحقیق لاندې وم، اخر مې وویل:

- میرزا صاحبانو! ما خوشې کړئ، ارو مرو زه برګه پیشو پیدا کوم، چې له دې ولایت نه بل ولایت ته تللې وي، هم ورپسې ځم او پیشو راولم.

خیر اته ورځې مې رخصت ضروري واخیست او په ورکې پیشو پسې وخوځېدم، کوڅه په کوڅه کلی په کلي ګرځېدم، هر چا نه به مې پوښتنه کوله.

- کدام پشك ابلقه نه دیدین.

خیر په اوومه ورځ چا راته وویل چې په دغه کوڅه کې یوه برګه پیشو پرته ده، زه ورغلم، خپ خپ خپ ورنږدې کېدم، کله به مې پیشو ته له چاپلوسې نه شپلاق واهه، کله مې ورته خندل، اخر پیشو مې غېږ کې ونیوله، ښکل مې کړه، نېغ د خپل ریاست د جنسي څانګې ته راغلم، چې پیشو مې مدیر صاحب جنسي ته وښودله، هغه چې پیشو ته وکتل راته ویې وویل:

- اې امو پیشك ابلق ما نیس، او چاق بود، ای لاغر اس، پوز ازو دراز بود ازی کوتا اس، او ناخنهای دراز داشت ازی باریك اس.

- (په عذر) قربان امی پشك خود دفتر مه اس، باور کو، خودش اس.

چوپ باش! پلوته بازی نکو، اینه پای ای پشك لنګ اس.

- خو..؟

نو قربان دا پیشو ربښتیا ګوډه وه، اخر دا شوه چې په یو اداري مجلس کې په ما داسې فیصله وشوه؟ چون مامور ارشیف پشکها ره خوب نګاه نکرده بد دفتر موشها خود مامور ارشیف بیکفایتی خود را ثابت ساخت تقاعد شود".

نو هغه وو صاحب چې ما ته یې تقاعد راکړ.

شریک بالاپوش

زما یو اندیوال و چې له ډېرې زمانې را په دې خوا یې له ما سره سلام علیک درلود. اصل نوم یې باز ګل و. خو اندیوالانو ورته تمبل ګل وایه. د تمبل ګل نوم ځکه اندیواالانو وربانديې ایښنی و چې د یوې موضع په سر کې به ډېر شخ، کلک او ګرم و، خو په پای کې به سست شو او هغه کار به یې په نیمه لاره کې پرېښود.

مثلاً که وا به یې وربدل چې کوم ځای کې د انګلیسي یا د الجبر او هندسې کورسونه پرانیستل شوي نو تمبل ګل به له هر چا نه دمخه ځان پکې شامل کړ. خو لس ورځې به لاتللی نه وو چې زړه به یې ور نه تور شو، اراده به یې سسته شوه او کورسونه به یې پرېښودل.

خیر له تمبل ګل نه زمونږ ټول اندیوالان اوښتي وو، خو یوازې زه وم چې هغه ته وفادار پاتې شوی وم. دا ځکه چې تمبل ګل زما د ژوند همسویه و، څومره چې زما اقتصادي وضعه برهمه وه، هومره د ده جېبونو هم په میاشتو میاشتو د لوټ طایفه نه لیده. نو همدغه علت و چې ما او تمبل ګل به د ژوندچارې او د ژوند احتیاجات په ګډه حلوَل. داسې چې یوه میاشت به ما او تمبل ګل پیسې یو ځای کړې او هغه ته به مې د کوټې سطرنجي پې واخیستله او بله میاشت به بیا تمبل ګل ما ته پیسې راکړې او ما به خپلې کوټې ته وربانديې

چاینکې پیالي برابرې کړې. حتی د حمام او سلمانۍ پیسې هم زمونږ له جیبونو نه یو ځل د تمبل ګل لپاره او یو ځل زما لپاره مصرفېدلي.

نو همدغه علت و چې د اندیوالۍ له مخې هغه زما او زه د هغې په غاښ برابر وم.

خیر خبره په بالاپوش کې وه، هغه کال ژمی زما او د تمبل ګل اقتصادي وضعه بیا خرابه وه، څه پیسې چې مو درلودې، د کوټې په کرایو او د نانوائی او سماوارچي په قرضونو کې لاړې او په دې ډول دواړه د پولۍ تك ته کېناستو. ژمی ګام پر ګام نژدې کېده، زه او هغه مجبور وو چې د نورو په شان بالاپوش ولرو، څو خپل څلور هډوکي تاوده وساتو. تمبل ګل په یوه فابریکه کې کار کاوه او ما په بله کې. دواړه هم د فابریکو پوروړي وو، نو له همدې کبله یې نورپه مورږ د یو غیران اعتماد هم نه کاوه. چاره څه وه؟ له بلې خوا بالاپوش هم مهم و، ځکه چې ما په وجود کې هم خورد غوښه نه پیدا کېده او تمبل ګل چې به دې پوه کړ، نو نولس ملاقه یې خوړل. یوه ورځ ما د هغه د کار ځای ته تیلیفون وکړ.

- (تیلیفون ډایلول)، بلې، زه اکا روکی یم، تمبل ګل مې په کار و.

- نبه دا دی په غوږ کې مې دی.

- (سکوت) بلې، تمبل ګل یې، سلام، د اکا روکي سلام ومنه.

- کور دې ودان.

- عرض دا و چې په اسمان کې وربځې ګرځې، هوا هم سړه شوې ده. له بلې خوا نه زه بالاپوش لرم او نه ته. دا به څنګه شي؟

- له ما سره پینځه څلوېشت افغانۍ دي او بس چې په دې پینځه څلوېښت افغانیو باندې یوه بې لستونې کورتۍ هم نه کېږي.

- بلې،

- لـه تـا سـره ځو دي؟
- نـوي افغانـي؟
- ښه ښه، (پـه حيرانـي) څه شـي؟
- يـو بـالاپـوش شريك واخلو؟ كله به يـې زه اغونـدم او كلـه تـه؟
- سـمه ده داكـار بـه هـم وكـړو. اوس نودخداى پـه امـان (كوشـكه ږدي).

مـا او تمبـل كل د همـاغې ورځې پـه مـازيگر د كهنـه فروشـي تول مـاركيټ لـټ پـه لـټ كـړ، مـانښام نـږدې و چـې يـو لـوى او اوږد بـالاپـوش مـو پـر (۱۲۰) افغانـي واخيسـت، بـالاپـوش خـو واخيسـتل شـو، خـو زه يـې استعمال ته چـرت وړى وم، چـې لـه يـوه بـالاپوشـه څنـګه دوه تنـه ګټه واخلو؟ پـه همدې چرت كـې وم چـې تمبـل كل راتـه وويـل:

- څنـګه پـه چـرت كـې روان ئـې؟ اكـا روكيـه! دا دى بـالاپـوش مـو هـم واخيسـت.

- سـمه ده، خـو زه يـې استعمال تـه حـيران يـم، مثلاًهمـدا اوس چـې هوا سړه ده، او زمـا سـاړه كـږي، زه يـې واغونـدم او كـه تـه يـې اغـودې؟

- پروا نه كوي، اوس زماساړه نه كـږي واخلـه تـه يـې واغونـده. زمـا چـې لـه ډېرې يخنـي نـه ژامـې كـړپـږي، د بـالاپـوش د اغوستو پـه وخت مـې وويـل:

ـ هـن، دادى ايلـه تـودم شـوم.

پـه دغـه ورځ خـو بـالاپـوش مـا واغوسـت، خـو لـه بـده مرغـه د شـپې ښه زوروه واوره وشـوه او پـه سـبا يـې ډېر تونـد بـاد ولـګې ده، بـالاپـوش لـه مـا سره و، سـهار لااسـمان لـه سـتوريو ډك و چـې د خپـل كـار پـه لـور وخوځېدم، د دې لپـاره چـې زه ځان د خپـل دفـتر بخـاريو تـه ورسـوم او بـالاپـوش د چا پـه لاس تمبـل كل تـه واسـتوم. خو هغـه پكـې ځان خپـل كـار تـه ورسـوي، او غـير حـاضر نـه شـي، خـير زه چـې كـار تـه لاړم د فـابريكې لويـه دروازه د معمـول لـه مخـې تړلـې وه. ښه وو بـلا وه بركـت يـې نـه و، د فـابريكې څنـګ تـه يـو سـماوار و، پـه هماغـه ننوتـم، او

سترګې په لار وم چې کوم اشنا پیدا شي، چې بالاپوش تمبل ګل ته ورسوي. د سهار اووه نیمې بجې شوې، یو اشنا او همکار مې سماروار ته رانغی، چې بالاپوش هغه ته یوسي. خو چې څه کم اته کېدې، کتل مې چې د سماوار تر مخ یو تکسي ودرېده کتل مې چې تمبل ګل ورنه کوز شو او په یوه منډه سماوار ته راننوت، چې راغی ما ته یې په واخلایی ووېل:

- له یخه وچ شوم (نوخبرې).

- اوه ښه شو چې راغلې، زه په دې چرت کې وم چې بالاپوش درته ورسېږي، واخله.

تمبل ګل چې بالاپوش واخیست په ببړه یې راته ووېل:

- ورشه د تکسي کرایه ورکه، هلته ولاړ دی، ما سره یو غران هم نه شته.

- د تکسي کرایه؟

د تکسي کرایه یو بل تندر و، چې زما په سر وغورځېده، ځکه چې له ما سره هم یوه افغانی نه وه او جیبونه مې د مفلسی له لاسه وازه خوله پاتې و، چاره څه وه؟ د تکسي کرایه هم باید تادیه شوی وای. او چې څومره تالېدله، کرایه هم د توقف په نامه زیاتېدله، مجبور شوم چې له سماوارچي څخه یې واخلم، هغه هم په دې طمعه چې لږ وروسته به یې ببرته ورکم.

پیسې یې له خپل دخل نه راکړې او تکسي مې رخصت کړ.. خو زه چې دمخه ښی له پاره سماوار نه راووتلم سموارچي راته ووېل:

کجا میري؟ اوبیادر! پیسه ماره بتي.

په وارخطائي مې ورته ووېل:

پیسې.. پیسې به بیا درکم.

سماوار چي راته توند مرچ شو:

چې وخت میتي..؟ تا پیسې مرا نتي. یك قدم از اي سماوار رفته نمي تاني.

(په عذر) مه کوه ګوره..؟ مازدیګر یې درکوم..

- (په شدت) نمي شه.. چې شودي اوه شاګرد! بګي.. امو بالاپوش شه ګرو بګي.. که قرض مره داد پس بتي.

زه او تمبل ګل هم مجبور وو چې بالاپوش سماوار چي ته ګرو ورکړو.. اوس نو دواړه په سماوار کې له بالاپوش سره يو ځای بنديان پاتې شو.. اخر له ماسره يو فکر پيدا شو اوهغه دا چې تمبل ګل په سماوار کې پربږدم او زه په پور پسې لاړ شم.. هماغسې مې وکړل.. لاړم د خزانه دار ږيره او بريت مې ونيول او پنځوس افغانۍ مې ورنه په پور واخستې.. اويکه راس سماوار ته راغلم هم مې بالاپوش او هم مې تمبل ګل له ګرو نه خلاص کړ.. له سماواره راغلو.. خو اوس زه او تمبل ګل په بالاپوش نه جوړبدو.. ځکه ساړه وو ما ويل چې زه يې اغوندم او هغه ويل چې زه يې اغوندم.. اخر زمونږ موضوع جنګ او جګړې ته ورسېده داسې چې:

ته يې ماته راکړه.. چې ډېر ساړه مې کېږي..

(په شدت) ليونی خونه ې (چې ژامه ې ړچېږي) نه وينې چې زه هم لکه پاڼه ربږدم

- (په قار) وايم راکه بالاپوش ماته..

- (په قار) ولاکه يې واغوندې..

- وايم خوشی يې که

- نه يې درکوم..

په دې ورځ ما او هغه دواړه په بالاپوش باندې ونښتو.. داسې چې دواړه غېږ په غېږ شو او په واورو وغورزبدو.. لوټ په لوټ اوښتو چې پدې کې څو تنه لارويان راغلل او مونږ يې سره خلاص کړو. خير دواړه ببرته سره په خولا او د لاسا شو.. بيا مو د بالاپوش له پاره يوبل سنجش وکړ.. داسې چې بالاپوش خياط ته يوسو څويې نور هم پراخه کړي چې پراخه شو بيا به يې په ګډه واغوندو.. يانې هم به زه پکې ځای شم او هم هغه.. ما سره له هغو شپېتو اوغانو څخه ديرش افغانۍ پاتې وې. لاړو خياط ته مو خپل مشکل ووايه. خياط زمونږ په خوښه بالاپوش ارت او پراخ کړ او مونږ دواړه د خياط له دکان نه

په يوه بالاپوش کې راووتو.. تمبل ګل له مانه جګ و. زما ايله دوه سترګې د بالاپوش له ګريوانه راوتلې وې، چې لاره مې پې ليده.. دواړه په موزونو قدمو په لاره تلو او لکه دوه نښتي انسانانو غوندې روان وو. يو ځای راغلو چې ويالې مو په مخ کې وه. تمبل ګل راته وويل:

- اکا روکيه؛ له ماسره يوځای له ويالې څخه ټوپ کړه، چې ونه غورځېږو.

- ښه؛ (په شدت) خيزکه.

- واخ..

مور دواړه غبرګ د ويالې په منځ کې وغورځېدو.. زمايو غابښ مات شو.. او د تمبل ګل پښې پوستکی څيرې شو په ان واحد کې يو کن شمېر خلک په مور راټول شول. د ټولو دا فکر و چې په بالاپوش کې يو سړی دی. يو تن زور ووا‌هه چې مور جګ کړي، خو مور چې دوه تنه وو. هغه سړي نورو ته وويل:

- (د ښارګنه ګونډه) ډېر درونډ دی.. تراوسه ما دومره درونډ سړی نه و ليدلی.

- ونيسه چې دواړه يې راجګ کړو (زورونه وهي)

- (په وارخطايي) اوه.. په دې بالاپوش کې.. دوه تنه دي.

- (په حيراني) ربنتيا هم دوه تنه دي.. احتياط کوه.. ارومرو دواړه يو بل سره ننښتي دي. معدې يې شريکي دي چې تاوان ونه وينې. ته يې کينوه چې زه ترافيک ته خبر ورکړم. ډېر ټپيان شوي دي.

- په سترګو.

هغه يو تن لاړ ترافيک ته يې خبر ورکړ او شيبه لا نه وه تېره چې د ترافيکو امبولانس راغی مور چې هم له شرمه غږ نه شو کولای او ټپيان وو. د ترافيکو په مرسته روغتونته ورسول شو.. خو کله چې روغتون ته لاړو هلته يې دوه تذکرې راوړې او چوړه يې کښنودې او مور دواړه يې پکې واچولو.. ډاکتر په ډېر احتياط زمور د شريک

بالاپوش تنې پرانيستې.. کله چې يې د بالاپوش تنې خلاصې کړې خپل همکار ته يې په خوښۍ وويل:

اوه.. خوشاله يم.. چې د دواړو وجود شريك نه دی.. بلکې په يو بالاپوش کې دواړه ننوتې..

- (په خوشۍ) غبرونې نه دې؟ يانې د دواړو وجود نښتی نه دی؟

- نه.. معدې يې هم سره ببلې دي..

- ما په زيګبروي ورته وويل

- (په درد) قربان: زمونږ وجود سره شريك ندی او نه هم زمونږ معده شريکه ده.

تمبل کل چې له درده لټ په لټ اوښت زما خبره ور تکميله کړه.

- (په درد) کربان زمونږ بالاپوش شريك دی.

هلته يو تجربه کار ترافيك ووېل:

- تاسې خپلې غوښې شريکې کړئ، خو د دنيا مال مه شريکوئ، چې ستاسې غابنونه ماتېږي.

هم خرهٔ بندي کړئ هم خرکاران

ښه مې یاد دي چې ښایسته زمانه وړاندې هغه وخت چې زه تنکی زلمی وم، زمونږ په کلي کې اوازه شوه چې اوکومت کې د (شېر) په نامه نوی حاکم مقرر شوی دی.

چا چې (شېرحاکم) لیدلی و، زمونږ د کلي ملك صیب او سپین ږیرو ته یې د هغه ښېنې ښېنانې ویلې لکه چې یوه به ویل:

د شېر حاکم پوزه د مرجان لالا د قاز غوندې چنګه ده.

هغه بل به ویل:

- د شېر حاکم ګیډه لکه د ګلو ماما ډول (ډهل) ته پاتې کېږي.

دا بل لادې ته اریان و چې:

- دا یې لاڅه کوئ چې شېر حاکم صیب په غاړه کې پرې تړلی دی.

لنډه دا چې هر کلیوال سړي چې [شېرحاکم] صیب لیدلی و، رنګا رنګ نظریې یې د هغه په باره کې درلودې، مونږ خو نه حاکم صیب لیدلی و او نه یې په شرنګ ترنګ پوهېدو.

هفته لا تېره نه وه یو ماسپښین چې مونږ ټول په جومات کې ناست وو، کوټوالی راغی هغه زمونږ ملك صیب پېژانده نېغ په نېغه له سلام نه وروسته یوه پرزه کاغذ یې ورته ورکړ ملك صیب په لیك

او لوست چندان بلد نه و، نو يې ميرزا ګل لال ته ورکړه هغه په لوستو پيل وکړه چې:

- "ملك قلعه پائين اګه سرسبا پيش از نان چاشت تو و موسفيدان قلعه پائين به سلام ما نيامديد، دګيش خو اوسوبان پوچاقايته ميکشم. از طرف شېرحاکم".

پرزه چې ولوستل شوه، زمونږ سپين ږيرو او ملك صيب يو او بل ته سترګه په سترګه شول اخر سلا مشوره دا شوه چې سبا به له خير او برکت سره د (شېرحاکم) صيب سلام ته ورځو، نو قربان دې له هوښياري نه شم، هغه وو چې سبا د کتير نغاره وډنګول شوه، او د کلي سپين ږيري، زلميان او نيمه زلميان سره راغونډ شول، خو په دغه ورځ زما غوا ورکه وه، ملك صيب نه مې رخصت اخيستی و، چې ګويا د حاکم صيب ليدو نه ما ته د خپلې غوا ليدل مبارك دي، نو خدای دې د ګډې له خونږ نه وساته، سر درده مه شې کليوال د حاکم ليدو ته وخوځيدل او زه دخپلې غوا د بيا ديدار په هيله په پتو او شوبلو سر شوم.

نو مانښام چې بيا د کلي په جومات کې د لمانځه لپاره راغللو، زمونږ دکليوالو په منځ کې (شېرحاکم) نوم په (چلم چي حاکم) بدل شو، ما چې له خپل همزولي وزير ګل نه پوښتنه وکړه چې زمونږ کليوال (شېرحاکم) ته ولې (چلم چي حاکم) وايي هغه مې ځواب کې وويل:

- چلم چي حاکم خو ځکه مونږ ورته وايو چې حاکم ډېر کم عقل دی، خلك چلم چي کې خپل لاسونه مينځي، ده کم بخت په خپل سر اينبی دی، غاړه کې يې هم د لتو پړی پروت دی.

هغه وخت مونږ کليوال څه ملامت وو، مونږ د (شپو خوله او نېکتايي) څه پېژنده؟ نو ځکه مونږ حق درلود چې د شېرحاکم شپو ته چلم چي او نېکتايي ته يې د لتو پړی ووايو.

ورك يې که، بلا دې وزپسې خدای دې ستا بلا ورکه لري، پنځه شپږ مياشتې وروسته سهار و، چا له پتيو نه څاروي راوستل، څوك

د سبا په ناري ناست وو او څوك تازه پتيو ته تلل چې ناڅاپه سر اولدار، اولدار او څوکو تولوالیان لښتي په لاس زمونږ کلي ته راغلل، هغه وخت چې به مونږ کوتوالي هم ولیده ملاریا تبي نیولو، په ټپره دستر اولدار لیدل څو مونږ ته د هیرې لیدل و.

خیر زه په لار روان وم، ځان مې په ځادر کې د سراولدار له وېرې تاو کړی و، څو هغه زه ولیدم راباندې برګ شو

کجا میری؟ برو ملګته صدا کو، ای قریه نیس، دزخانست، مه دای دیره شستیم چابك بیاریش.

ما ویل لویه پیره په نیکو راورسېږه، دا په څه بلا واوښتم؟ زه په عمر ماکمې ته نه وم تللی نو ځکه مې د دریشې خاوندان نه وو لیدلي، خیر له ډېرې وېرې مې د پیشو غوندې د ملك کلا ته منډه واخیسته، ښه وو رما له تالو ملك صیب راوتلو چې زه یې داسې وارخطا ولیدم نو یې په حیرانۍ پوښتنه رانه وکړه:

- بیا دې څه په کولمو پیچ لګېدلی، چې داسې وارخطا یې؟

- ملك صیب! په دېره کې څو تنه ناست دي، ټه خبرو یې نه پوهېږم خوستا نوم یې واخیست.

زما له دې خبرې سره ملك صیب نېغ د ډېرې ته لاړ او زه له وېرې خپل کور ته شېوه شوم. په کور کې له ډاره په انګړ کې هم تینګ نه شوم نېغ د څارویو غوجلي ته ورغلم، تا ته دې خدای ډېره روزي درکړي، په عمر دې برکت شه، د کاکا زو، نیم ساعت به لا تېر شوی ته وچې د کلي نغاره بیا ودزبده او کلیوالو ته یې د خطر اعلان وکړ، زه هم مجبور شوم چې لکه مار غوندې له سورې راووزم او ځان دیرې ته ورسوم، زه لا سم رسېدلی نه وم چې زمونږ ټول کلیوال د ملك د ډېرې مخې ته ولاړ وو، د تعجب خبره دا وه چې د وه خرونه هم د خلکو په منځ کې ولاړ وو. په دې کې زمونږ ملك صیب هغه سرې ته چې د کوتوالي تر څنګ لرکي په لاس ولاړ و، مخ ور واړاوه او ورته یې وویل:

- سراولدار صیب! دا ده دواړه خرونه حاضر شول، برګ خر هغه دی او تور خر دغه دی.

تازه وپوهېدم چې لرې دې له مخې دغه چاغ سړی سر اولدار دی، سر اولدار زمونږ ملك ته د هغه لیك په لوستو پیل وکړچې په لاس کې یې و:

- ملك صیب! حاکم صیب اینې مکتوبه بمه داده دای مکتوب امر شده که خرا ره برایش حاضر کنم.

- ته یې ولوله چې چلمچي حاکم صیب څه شی لیکلي؟

- نوشته کده "سر اولدار! بمه خبر ر سیده که د قلعه بالاز خانه ګل اکبر توسط دو مرکب که لګی آن ابلق دیکش سیاست، مثل دزد رفته و ګندم های کردها را به دزدي خورده قرار معلوم این دو مرکب یا دو خر در قلعه پائین دیده شده قلهذا بصورت فوری این دو مرکبه برایم حاضر نمائید، تا توسط خرها صاحبان آن نیز معلوم شود که بعداً هم خرها بندی شود و هم خرکار ها"

- الی خو فامیدین؟

مونږ تولو وویل چې له پېښې نه تېښته نه شته.

بېګانه وزه

سپين ږيري او زلميان په جومات کې ناست وو، د کلي "دم-نايي" سبز مير اکا رامنډه کړه او دا چغه يې کليوالو ته را ورسوله:

- کلي ته بېګانه "وزه" راغلې، کله دکلي سپو سره ښکر په ښکر کېږي، کله له کډو او غواګانو سره ځي چې د کلي غوايو ته هم تور او بربنډ کوي.

د سپز مير اکا په دې خبرو ټولو ناستو کسانو وخندل خو بيا هم مصلحت په دې شو چې بېګانه "وزه" دې سبز مير اکا خپل کور کې وساتي. همداسې وشوه، سبز مير اکا خپل کار پسې لاړ اوکليوال خپل کار پسې، سهار چې د لمانځه لپاره بيا خلك جومات ته راغلل، د سهار لمونځ لانه و شوی چې سپين ږيری نايي په چغو راغی:

- مړ شوم! ټوله شپه مې له دې وزې سره جګړه کړې ده، وګورئ جامې يې راته ښانګه کړې، غوښې خو نه لرم، پوستکی يې راته مړې مړې کړ.

د کلي ملا په بيړه لاټين د سبز مير اکا مخ ته ونيو، ږښتيا چې د هغه د جامو او بدن وضع ښه نه وه، ملا صاحب په خندا ورته وويل:

- دومره زور شوی یې چې وژه دې څملوي؟ د هلکانو مور خو به دې د ورځې شل واړې په خټو مندې.

کلیوال په خندا شول خو سبز میر اکا په ګیلو وویل:

وژه نه ده ملا صاحب! سپی ده، په ښکرو ګذار کوي او په غابنو خولې لګوي.

جمدر اکا غږ کړ چې لمونځ را نه د وزې په غم کې قضا نه شي.

چې لمونځ وشو له دعا نه وروسته بیا جمدر اکا خبره میدان ته کړه:

که د وزې خاوند پیدا نه شو، باید په وهلو وهلو یې له کلي وشړو، دې سپین سترګې زمور د کلي زور خدمتګار بې عزته کړی دی.

مدو اکا ته د جمدر خبره بې خونده ښکاره شوه نو په تندی یې وویل:

ته د نایي په بې عزتی پسې ګرځې، خو د یوې بیچاره بې ځښتنې او بې اخورې وزې بې عزتی باندې سر نه ګرځوې، دا انصاف دی چې یوه مېلمنه او بېګانه وزه په وهلو ټکولو له کلي وباسو؟!

له دې وروسته شامیر اکا وویل:

- دا زمور کم عقلي ده، چې یوه هرزه او کوڅه یي وزه مېلمنه وبولو، او د کلي زور خدمتګار نایي پردی وګڼو، که وزه سمه نه شوه، یا دې حلاله شي یا دې وشړل شي.

لاجمیر اکا هم په شدت د مدو اکا خبره تائید کړه:

- که دې مسافرې وزې ته څوك کړې وګوري، سترګې یې ورته باسم، خوښه د وزې که دلته اوسي او یا ځي.

خو سمندر اکا باندې دا خبرې ښې و نه لګیدې هغه هم په تندی خواب ورکړ:

- وزه دې لکه چې مور ده که څه؟! ته د یو خدمتګار نایي بې عزتي ته خوښې یې او د یوې شینګرې او فراري وزې عزت غواړې.

لنډه دا چې د وزې په سر او د کلي د زوړ ټايي په سر اختلافونه او لانجې زياتې شوې او کلي دوه ډلې شو، ټرډې وه چې جګړه پېښه شي اوسرونه مات شي، خو د کلي ملا دواړه مخالفې ډلې سره ببلې کړې، خير په دغه ورځ کليوال ټول سره تيت شول او خپلو کارو ته لاړل، خو وزې ټوله ورځ پټه کلي کې غوبل جوړ کړ، کله يو بام ته منډه که، کله بل کله يو ماشوم وځغلوه، کله بل، کله په يوې زړې بنځې دارې ولګوه کله په بلې. لنډه دا چې تر مازيګره د کليوالو مېرمنو او وزې تر منځ مقدمه او جګړه چلېدلې وه، عجيبه خبره دا ده چې لاجمير اکا چې د وزې د ډېرو سختو طرفدارانو څخه ګڼل کېده، خو بيا هم وزې د ده مېرمن را چپه کړې وه، د نورو مېرمنو په مخ کې يې پرځولې وه او جامې يې وربانديې ريتارې رتيارې کړې وې.

د وزې مخالفه ډله دا ځل پاسېده، کوتکو ته يې لاسونه ور وړل تر څو چې له وزې نه د کلي د مېرمنو کسات واخلي، مګر د وزې طرفدارې ډلې چې په سر کې يې لاجمير اکا و، مداخله وکړه او داسې کوتک بازۍ پيل شوې چې ټرډې و مړې پکې وشي. دلته زمور د کليوالو د بې اتفاقۍ نه وزې ورځ په ورځ بده ګټه اخيسته، يوه ورځ د کلي ملا صاحب کليوالو ته دا خبره وريادە کړه.

ميرزا قابل ورك دی، هغه خو د حيواناتو په خبره پوهېده، را دې شي له وزې سره دې وغږېږي.

ربنتيا هم ميرزا قابل زمور له کليوالو نه هېر و، ميرزا قابل لس کاله د زراعت له لايقه بيطارانو سره کار کړی و، هغوی ټول د حيواناتو په خبرو پوهېدل ده هم ورته د حيواناتو خبرې زده کړې وې، حتی ميرزا قابيل به ويل چې د سپو پيشو او کيډوانو په خبرو هم پوهېږي. په دې خبره ټول کليوال راضي شول او په ميرزا قابل چې چېرته بل کلي ته مېلمه تللی و، څو ځوانان ورپسې واستول او ميرزا قابل يې په ډيچو حاضر کړ، کله چې ميرزا قابل راغی نېغ په نېغه ببکانه وزې ته چې د مدوا کا د بام په سر لکه غالب سرباز ولاړه وه،

ورغـی، وزه ورتـه د بـام پـه سـر پـه دوه پـښو شـوه او خپـل ښکرونـه يـې ورتـه راتـاو کـړل مـوږ ويـل چـې اوس بـه مـيرزا قـابل پـه خپلوښکـرو دانګې وانګې کړې خو ميرزا قابل ورتـه د بـام پـه سر نـځا شـروع کـړه، وزه هـم ارامـه شـوه او د سـپينږيري کشـړوپ مـيرزا قـابيل تـه او د هغـه ګدا تـه چرتـې پـاتې وه مـوږ تول کليـوال، ښځې نـر، واړه، زيـړه لانـدې کـوڅه کـې ورتـه ولاړ وو او د مـيرزا قـابل او ښکانـه وزې تماشـا مـو کولـه، ميرزا قـابل وزې تـه وړانـدې شـو لومړی يـې د وزې مـخ ښکـل کـړ بيا يـې په غـوږو کـې څه ورتـه وويـل، شـبه سـکوت نـه وروسـته يـې مـوږ تـه لـه بـام نـه اواز وکـړ:

- د دې وزې لکـۍ او غـوږونـه پـه کـوم ځای کـې چـا غـوڅ کـړې دي، حتـی چـې دې ظالمـانو يـې غولاتـځه (تيونـه) هـم پـرې کـړې دي، دې د انسـان په مقـابل کـې کينـه او عقـده اختيسـې نـو ځکـه....

مدو اکـا يـې خبره ونيولـه پـه لـوړ اواز يـې ميرزا قـابل تـه وويـل:

مـوږ يـې نـه لکـۍ غـوڅه کـړې او نـه غـوږونـه، ولاکـه يـې پـښزنـو چـې دا وزه نـر ده کـه ښځه، پـه مـوږ ولـې لـګېږي!؟

کليـوال وپوهـېدل چـې وزې لـه هـر انسـان سـره او چـې انسـان يـې نـوم وي ورسـره حساسـيت او د انتقـام روحيـه يـې اخيسـتې ده خـو بيـا هـم کليـوال د وزې پـه شـړلو او يـا وژلـو سـره نـه جـوړېدل يـوه ورځ داسـې پـېښـه وشـوه چـې وزې د شـا مـير اکـا وړوکـی لمسـی چپـه کـړی و او خپلـو لغتـو لانـدې يـې نيولـی و، او بيـا يـې د هغـه بـېچـاره ماشـوم پـه خولـه کـې ميتـازې هـم کـړې وې، دې پـېښـې د وزې د مخـالفينو هيجـان او قـهر بيـا راوپـاراوه پـه وزې پسـې بيـا کوتـك را واخيسـتل، خـو چـې د وزې طرفـداران وپوهـېدل هغـو هـم د وزې پـه ګټه سـوټيو تـه لاس کـړ، درې شـپې او درې ورځې د وزې د مخـالفينو او طرفدرانـو تـر منـځ جګړه وه، سرونه پکـې مـات شـول او اخر پـه کلـي کـې مـرچلونـه هـم جـوړ شـول، نـژدې و چـې خبره توپکـو تـه ورسـېږي، خـو د خـدای فضـل شـو د بـر کلـي خلکـو پـه خپلـو کـې پرېکـړه کـړې وه چـې دا وزه بـايد لـه کـوز کلـي نـه ورکـه شـي کنـه کـوز کلـی تبـاه کـېږي، هغـه وو چـې د بـر کلـي ځو

زلميان په پته په چرکي ډول د شپې په تياره کې راغلل او بېګانه وزه يې دسګيره کړه اود شپې شپې د کلي د اديرې په ونې پورې يې غرغره کړې وه، چې د وزې په ځورند پدو د سيمو کليوال خبر شول ډله ډله راتلل او د وزې په مړي يې ډبرې وارولې اوزمور کلي هم په دې ډول د وزې له شره خلاص شو، خو کليوالو ته دا تجربه شوه چې کلی بې اتفاقه وي وزه به هم حکمرانه وي.

چې پيشو اصيله شي

زه د کابل د تپه سلام د غونډۍ په سر کې اوسېدم او دلته يو دوه کوتې مې جوړې کړې او بچيان او چورګړي مې پکې خوندي کړل، خو ناڅاپه په کور کې مورګان پيدا شول، له يوې کوتې نه يې بلې ته له بلې نه يې انګړ ته او له انګړ نه يې تشناب ته سورې او صوفان جوړ کړل، کټ مټ لکه سپاهيان چې موضع ياسنګرونه دښمن ته کيني.

کوتې يې راته سوړې سمبوړې کړې چې هر څو به مې د دوی په غارو کې ډبرې او ښيښې ورټکولې خو ګټه يې نه کوله. سبا به يې بيا هماغه ځای له پخوا نه زيات غار کړی و، لارم وزارت زراعت ته مې عريضه وکړه چې ما ته د مورګانو ضد دوايي راکړي، هلته مې يو رئيس شناخته و، چې دفتر ته يې ورغلم، ډېر شرافت يې راسره وکړ، زه يې ځان سره کښولم، چای يې راته وغوښت سړی يې موظف کړ، چې دوا راوړي، قوښان، بلا دي ورکه شه، دوايي راته راوړه او زه هم په ډبرې خوشحالي او احترام له رئيس صاحب نه رخصت شوم، کور ته چې لارم، د هلکانو مور خپله خوابې او خپله کورنۍ کابينه مې وغوښته ما ويل راځئ زه نن جهراً او قهراً دې مورګانو ته بيانيه ورکوم، اولتيماتوم او اخطار ورکوم، چې زما کور دې خوشی کړي

کنه د دې دوا په اثر به قتل عام پکې شروع کړم، څرنګه چې زمونږ ټوله کورنۍ دې مونږکانو په عذاب کړې وه، زما له دې وینا سره خوشحاله شول، په تېره بیا زما خوابښې څکه چې د هغې د واده کمیس یې ورته توتې توتې او مړې مړې کړی و، هغوی راغونډ شول او ما په زوره لکه چې څوك زر تنو ته بیانیه ورکوي دوه بالښتنه مې سر په سرکښبنودل له پاسه یې ودریدم او خپله بیانیه مې داسې اغاز کړه:

بسم الله الرحمن الرحیم

ګرانو مونږکانو! زما خونږو همسایه ګانو! او ګاونډیانو! تاسې ته پوره معلومه ده چې ما په ډېر زیار او زحمت په دغه غره کې د خپلو ماشومانو لپاره یو سر پناه جوړه کړې ده، تاسې فکر وکړئ چې دې غره ته اوبه راوړل څومره سخته ده، بیا خټې کول پکې څومره مشکل دي؟! ما په دومره کړاو او ربړونو باندې دغه کوټې ستا په دعا او برکت ابادې کړې، خو اوس تاسې زما د کوټو ورانولو او تخریب ته ملا ټرلې ده، تاسې یې هم وینئ او زه یې هم وینم، چې زما په کوټو کې یو ځای هم روغ نه دی پاتې او نه زمونږ د تن جامې روغې پاتې شوې، خو ستاسې دغه ټول ظلمونه ما او زما خاندان په پوره حوصله مندۍ هضم کړې اوس چې زمونږ طاقت طاق شوې زه تاسې ته خبرداری درکوم چې سره له همدې شېبې د خپلو کوټو پر ټولو سورو د حویلۍ په سورو حتی په ټولې حویلۍ او بکسو کې دغه ستاسې د مرګ دوا شیندم، یا زما له کوره خپله کډه بار کړئ یا که خیر و، ټول به مړه شئ.

والسلام.

زما په دې بیانیې سره زما ټولې کورنۍ چکچکې وکړې، موتی موتی دوا هم ما او زما کورنۍ د کوټو په غارو د انګړ په غارو ان چې په دېوالو او چتو کې مو هم وشیندل ما ویل که خدای کول نن شپه به په آرامه خوب وکړو، خدای شته د ماسختون پورې چې مونږ ناست وو، یو مونږك ښکاره نه شو، مونږ د خوشحالۍ نه بوره شربت

په هماغه شپه کې په ماشومانو ووښه، خوچې څراغ مو وواژه او تياره شوه، بدې وړځې نه دې وينم د موږکانو دسته جمعې حملې راباندې شروع شوې او ټولې ټولې، کنډک کنډک راباندې توی شول، کړنګ او ګړونګ، غرب او غروب په کوټو کې شروع شو، تا به ويل چې د ښار ټول غله موږ کره راننوتي دي، ماشومان هم وورېدل چغې يې شروع کړې، واړه زوی مې چغه کړه:

دادا غوږ مې درد کوي.

خوابښې مې هم له هغه بلې ګوتې نه بغاري کړې:

- د خدای لپاره ټيکری يې را نه يووړ.

زه ژر پاڅېدم، څراغ مې ولګاوه، چې کوټې ته يې نظر واچاوه، سترګو مې تور واخيست څکه د موږکانو يو تور سېلاو چې په کوټه کې اوښته را اوښته زوی مې له غوږه ډېر نالښت کاوه، چې رنا ته مې وکوت کتل مې چې د غوږ پسته يې ورته وړې ده، او وينې تړې روانې دي، له قاره مې په زړه لړزه ننوته، کوروالاوو ته مې امر ورکړ چې کوټک لرګي او هر څه چې په لاس درځي په موږکانو حمله وکړئ. همدا کار موږ شروع کړ، له تا نه به يې څه پټوم، که ډېره مخ ته راتله که لوټه، که پيالې مخ ته راتله له چاينکه آن چې غوري او پشقابونه هم موږ په موږکانو غوزارول، تر سبا زموږ او د موږکانو جګړه روانه وه ښايسته موږکان مو پکې مړه کړل، خو موږ هم له غوريو، قابو او پيالو نه پکې خلاص شو او د سهار چای موږ نوبت په نوبت د اوبو په جام کې وڅښل، سبا نېغ پل خشتي ته ورغلم، پنځوس دانې تلکونه او يو کيلو د ..سه غوښه مې هم راوړه، ما ويل چې وړه وړه به يې کو، د تلکو په چنګکو کې به يې ورکړوو تر څو موږکان د غوښې په طمعه په تلکو کې بند شي، په دغه ورځ وظيفه هم رانه پاتې شوه، تلکونه په شا غوښه په لاس کو.. ته وروختم، د هلکانو مور خوابښې او بچيان چې ټوله شپه جنګبا.. ي وو ويده وو، هغوی مې وينښ کړل، او د تلکو ګټه مې ورته تشريح کړه، غوښتل مې چې موږکانو ته بيا بيانيه ورکم، خود هلکانو مور منع کړم، هغې وويل:

دښمن بايد زمونږ له رازه پوه نه شي.

ما هم ورسره ومنله، تلکونه مې په رښا ورځ په کوټو، انګړ او مشکوکو ځایو کې تیت کړل، خو څه ګټه؟! چې شپه مې د تلکو څارننه وکړه، په خپلو سترګو مې ولیدل چې د هر تلك تر څنګ لس لس دولس مورچکان ناست وو او د هغه د خټنا کولو پلانونه یې سنجول او چې سبا شو تا به ویل چې پیریانو وړې یو تلك هم په کور کې پاتې نه و او زمونږ دا پلان هم شنډ شو.

له دې وروسته د پیشوګانو موضوع مونږ په کور کې مطرح کړه، د پیشوګانوغونډې ته ما خپلې خویندې، ښینې د هغو خاوندان، خپل زوماګان د هغو مېرمنې او نږدې ګاونډیان هم مونږ د شپې مېلمانه کړل او د مورچکانو او پیشوګانو مسئله ورسره مطرح شوه، هر چا په دې باره کې نظریات څرګند کړل، چا ویل لنګه پیشو له بچیانو سره راوله، چا ویل پنځه شپږ "بلاربې" او شکم داړې پیشوګانې راوله، چا څه ویل او چا څه ویل، په دې کې زما د مېرمنې خور "ښینې" وویل:

- له هر څه نه تېر شئ، دا هرزه او کوڅه یې پیشوګانې د کار نه دي، بې ادبه دي، چټلې دي، راز راز امراض ځان سره راوړي، د سوداګرۍ د معین ښځه مورږ سره په یوه موسسه کې کار کوي هغوی له خارجه ډېره اصیله پیشو راوستې ده، چې کټ مټ د یوې هوښیارې پېغلې غوندې ځیرکه او په خبره پوه ده، هغه لنګه شوې وه او نسل یې هم خارجي دی، بچیان یې غټ غټ تېره ورځ ما ولیدل، زه له هغې نه دوه پیشوګانې راولم.

مورږ تولو ورسره ومنله، حتی ما خو دعا هم ورته وکړه.

دوه دري ورځې وروسته زما مېرمنې، ښینې او زما خوابنې تکسي نیولې وه او د پیشو دوه بچیان یې په ډېر احترام کور ته راوستې او مازیګر چې زه کور ته راغلم، خوابنې او ښینې مې داریاکانې اخیستې وې، د پیشوګانو په سلامتۍ یې ګرنګولې او زما دوه کوچنۍ لونې او زما د باج لونې ورته ګډېدې او پیشوګانو

ـه يې خپل د خوښۍ مراسم سر ته رسول، زه هم داريا ته بې اختياره په اتن شوم او په اتن اتن مې ځان سترې کړ، خير مور خوشحاله وو، که خدای کول د مورکانو اجل نژدې شو، خو خبره داسې نه وه، تاسې باور په خدای وکړئ چې زمور دواړو پيشوګانو له مورکانو سره د سولې پروتوکول په پته لاسليك کړی و، ځکه پخوا خو به په رنا ورځ مورکان کوټه کې نه شو ګرځېدای او نه تشناب ته راتلای شول، اوس حتی د تشناب په تشتو او کاسو کې يې ځان هم مينځه او سهار به مور چای څښه مورکان او پيشوګانې به د دسترخان شاوخوا راته ناستې وې او د "نر" غوندې به يې راته کتلې او مور به يې ريشخندولو، په تېره هغې غټې مړې خو چې تل به زه ليدم، په خپلې مخکينۍ پښې به يې خپل برېتونه راته صفا کول او زما په بريتو به يې خندل، يوه ورځ مور پيتاوي لپاره انګړ ته راووتو، ناست وو چې په کوټه کې د پيشوګانو او مورکانو شور ماشور او ګړچ پرچ شروع شو، مور خوشحاله شو چې که خدای کوله دواړه ډلې سره بزخلافه شوې مور د هغو د جګړې لپاره غلې غلې دهليز ته ورغلو د دروازې له ترقه مو وکتل چې اويا مورکانو زمور له دوه پيشوګانو سره د پيشو او مورکو ګډ رقص شروع کړی و، ما ويل اوس زما د کور رنګېدل نژدې شول، دا دواړه متخاصمې ډلې چې سره عزيزان شول خدای مه کړه زمور خونه به ميراثه کړي.

له دې نه بده خبره خو لا دا ده چې يوه ورځ ما د خپلو بچيانو لپاره يوه کيلو غوښه راوړه، ما ويل که خير و بېګاه به يوه ترخه شورڅا له مورکانو لرې په انګړ کې نوش جان کړو، کډې مې غوښه په تشناب کې په يوه لوښي کې ايښې وه، دواړو پيشوګانو غوښه دوه ټوټې کړې وه، يوه ټوټه يې د يوې پيشو په خولې او بله يې د بلې پيشو په خولې کې وه، شپږ اوه مورکان د پيشوګانو مخ مخ ته شپږ اوه يې شا ته روان وو او خوښه يې د مورکانو يوې لويې (سورې) ته په ګډه انتقالوله.

لـه هغـې ورځې مورِکـان مـې هـېر شـول لـه خپلـو پيشـوګانو نـه ووپرېدم مـا ويـل يـوه ورځ بـه داسـې هـم راشـي چـې د سـيمې ټول مورِکـان او پيشـوګاني بـه رابـاندې راټول کـړي او مـا بـه هـم ژونـدی دمورِکـانو په سوړه ننباسـي. نـو راځه چـې پـه مورِکـانو د زور نـه رسـېږي د دې پيشـوګانو چـاره وکـړه. هغـه وو چـې د خپلـې خـور لـه کـوره مـې "خـړو سـپی" چـې د پيشـوګانو ټاکـو او اټوم بـم و، راوسـت او پـه انـګړ کـې مـې ايلـه کـړ. خـړو سـپی پيشـو داسـې وځغلولـې چـې تـر ننـه يـې پتـه و نـه لګېدلـه. زه چـې د خـارجي پيشـوګانو د اصـل او نصـب د معلومولـو لپـاره ۵ سوداګرۍ معيـن صاحب تـه ورغلـم هغـه راتـه وويـل:

- مـا پـه وزارتِ زراعـت کـې خپلـو پيشـوګانو تـه د القـاح مصنوعـي عمـل اجرا کـړ و. مالومـه نـه ده چـې بچيـان يـې لـه کـوم او د چـا لـه نسـله ده؟

وپوهـېدم چـې پـه اصـل نسـل کـې کچـه نسـل يـو ځای شـوی او "د ورګ" نسـل يـې تـرې جـوړ کـړی دی چـې "د ورګ" نسـل لـه کچـه نـه هـم کچـه وي، هغـه و چـې بيـا مـې خپـل وطنـي پيشـوګانې دغـو حرامـزاده مورِکـانو تـه اسـتخدام کـړې او د يـوې مياشـتې پـه مـوده کـې يـې د مورِکـانو لـه شـره خـلاص کـړم اوس دې نتيجـې تـه ورسـېدم چـې مورِکـان بـه د وطـن پـه پيشـوګانو او پـردی پيشـوګانې بـه پـه خپلـو سـپو نـابودوی.

د کلي خرو څه غوښتل؟

مـابنام نـژدې و چـې پـادوان د کلـي غوايـي کلـي تـه راوسـتل، خـو خـره پکـې نـه وو، کليوالـو لـه پـادوان نـه د خـرو پوښتنـه وکـړه، پـادوان چې د پر ستړی او ناراضـه مـالومېده، ويـې ويـل:

- تول خـره پـه کډه پـه وچ خـور کـې څملاسـتل، د ډنيـا خـواری مـې وکړې جګ نـه شـول.

د کلـي د يـوه خـره خاوند بـادر اکـا ورتـه وويـل:

- کـم بختـه! د خـرو دې منلـه کـه خپلـه؟! وهلـي بـه دې وو، تکولـي بـه دې وو.

د کلـي بـل خـره والا پيـدو مامـا پـه تمسـخر وويـل:

- چـې پـادوان زور شـو، څاروي يـاغي شـول، سـړی اکـا زور شـو د خـرو هـم ترې حيـا نـه کـېږي.

تولـو کليوالـو د پيـدو مامـا پـه خـبرو وخنـدل خـو شـريف اکـا چـې خپـل څادر يې دوه رخـه پـه اوږو پـروت و، سـپين ږيـرې پـادوان تـه وويـل:

- لومړی د چا خر د خـور پـه شـکه کـې څملاسـته؟

پـادوان بـې ځنډه ځواب ورکـړ:

- د تـا خـرا! دا يـوه هفتـه وشـوه چـې پـه غـره کـې نـه خپلـه سـم څرې او نـه نـور خـره خوراك تـه پـرېږدي، کلـه دغـره سـر تـه خيـژي کلـه حـق نـاحق لوټکـی وهـي، او کلـه يـې (عـر عـر عـر) شـروع کـړی وي، ډانـګه لکـی کلـه کښتـه منډې وهـي او کلـه پورتـه.

بادر ماما په کلکه پیدا محمد اکا ته وویل:

- ما خو یوه بله ورځ هم درته ویلي وو چې له کومې ورځې زما خره د تا د خره سره ګشت او ګذار شروع کړی دی، زما خر سپین سترګی شوی دی، نه سم بار وړي اونه سم د انسان په خبره ده، پخوا چې به دې ورته (اوشه) کړ سیخ غوندې به سم ودریږد او چې ورته به دې (ایخ) کړل ورګې غوندې به الوت، اوس بلا وهلی نه په (اوشه) دی او نه په (ایخ).

پیدا محمد اکا یې خبره بې ځوابه پرې نه ښوده، دستي یې ورته وویل:

- چاره څه ده؟ زما خر خو د خپل پلار بچی دی، تاسې ته مالومه ده چې څوارلس منه به مې بار کړ، چرت یې نه و خراب، چې په ډبرو به مې بار کړ په ډبرې خوشحالی به ورلاندې روان و، اوس نه پوهیږم چې د کوم بد بخت خر زما خر داسې ناکاره بیکاره کړی دی. د کلي هر کلیوال د خپلو خرو صفتونه شروع کړل، خو ملامت خر پکې مالوم نه شو، نژدې و چې د خرو په سر کلیوال په خپلو کې سره ونښلي، اخر باز میر اکا چې په کلي کې تر ټولو زوړ و، کلیوالو ته یې وویل:

- د خرو خبره سړیو ته مه راکاږي! هر سړي ورشئ خپل خر رامخکې کړئ، کور ته یې راولئ.

د باز میر اکا خبرې قار شوي کلیوال سره غلي کړل هر یو په چوپه خوله وچ خوړ ته وخوځیده چې خپل خر راولي، وچ خوړ د کلي سر ته لنډ پروت و، دوی چې ورغلل، ویې کتل چې رښتیا هم ټول خره خوا په خوا سره پراته دي او ډډې یې لګولې دوي هر څوک د خپل خره په پاڅولو بوخت شو، چا د خپل خره غوږونه کشول چا لکۍ کشوله او چا ورته سوتي نیولي وو په ډډو ډډو یې ډباوه، خو خره چې نه جګیدل نو نه جګیدل، دوی سترې شول خو خره جګ نه شول، اخر شریف اکا په کلیوالو غږ کړل:

- په دې خرو کومه بلا لګېدلې ده، مړه به يې کړئ، خو جګ به يې نه کړئ. پيدا محمد اکا ورته په مصحلت وويل:

- نو چاره يې څه ده؟ که يې پرېږدو لېوان به يې وخوري.

- په لېوانو يې نه خورو، ميرزا قابل ورته راولېئ!

د سپين ږيري شريف اکا خبره د خرو په خاوندانو خوږه ولګېده سملاسي يو کليوال په ميرزا قابل پسې وخوځېده. ميرزا قابل زموږ د کلي ډېر پخوانی ميرزا و، پنځلس شل کاله وړاندې په کومه ويترنري موسسه کې د پروړو او وښو کاتب و، چې د څارويو د پروړو اندازه يې مالومولې او هم يې د حيواناتو د پروژې د لګښت او ګټې حساب او کتاب ورسره و، ده به تل کليوالو ته دا لاپې وهلې چې (زه د حيواناتو په ژبه پوهېږم ځکه چې يو عمر مې د حيواناتو له ډاکټرانو او پوهانو سره کار کړی دی) ده دا هم زموږ کلي کې په عام محضر کې ويلي وو چې:

- ما د څاريو داسې پوه سړي سره کار کړی دی چې د څارويو په خبرو بيخي پوهېدې او ان چې خبرې يې ورسره کولې.

ټولو کليوالو ورسره منلې وه، ميرزا قابل زموږ سړی و، خولې کې يې يوغاښ نه و، وچ ډنګر سړی و او تل به يې يوه قارقلي پوستکی په سر و، چې هر څوک و، و به، خو دومره به درته ووايم چې ميرزا قابل زموږ په کلي کې اګر که ډېرچالاکه شياد او شيطان صفَته و خو بيا هم غنيمت و، ځکه چې د کلي ليکونه قبالې او د مالياتو ګډام د تحويلې زاړه تکټونه او سندونه يې لوستل کليوالو ته به يې ليکونه ليکل او د کلي په هره نکاح او هر مړي کې به حاضر و.

خير شپېه وروسته ميرزا قابل د ورځې په شان له خيره سره راورسېد، کليوالو د خرو په هندې پوه کړ، ميرزا قابل وويل:

- تاسې آرام اوسئ! زه په خپله ورسره غږېږم.

له دې سره سم ميرزا قابل هر خره ته ځان ځان ته ورغی او غوږ ته يې کښاست، نه پوهېږي چې څه يې ورته وويل، خو شپېه ورسته ميرزا قابل په ګيله د خرو خاوندانو ته وويل:

- کـــم بختـــانو! خـــره بـــاروئ، خدمتونـــه پـــې کـــوئ، خـــو د دوی مشکلات نه منی خره، ټول ګیله لـري یـو وایـي چې مـوږ زخمیـان شـو، زمـوږ ځنبتنـان زمـوږ غـم نه خوري، بـل وایـي مـوږ تـه دې هـم د اسـانو پـه شان نالونه ووهـي.

د مـیرزا قـابل خبرې پیدو اکـا لنډې کـړې ویـې ویـل:

- دا زمـا بـد بخت خـر څه هیلـه لـري؟ مـیرزا قابلـه! هـر مـابنام نیـم نیـم چارك وربشـي ورکـوم، شنه پـروړه ورتـه ورکـوم، نـور څه را نـه غـواړي؟!

لنډه دا چې د خرو خاوندانو پـره پـه خپلـو خـرو بـار کـړه او د خـرو پـه خاوندانو کې د اعتراضـاتو شور جـګ شـو، اخـر مـیرزا قـابل وویـل:

- کـه تاسـې لـه خپلـو خـرو سره کینـه راواخلـئ، ګومـان نـه کـوم چـې دا وړې بـه شـړې کـړئ. ښه دا ده چـې حوصلـه وکـړئ او خروسـره سـاځښت وکـړئ!

کلیوال غلي شول، خو شریف اکـا مـیرزا قـابل تـه وویـل:

- الکـه مـیرزا قابلـه! تـه د دوی د وروسـتیو غوښتنـو پـه بـاره کـې خبرې وکـړه، کـه زمـوږ پـه تـوان کـې وو، و بـه یـې منـو او کنـه پښـې بـه یـې ورتـه وتړو او لېوانـو تـه بـه یـې واچـاوو.

د شریف اکـا لـه دې وینـا سـره مـیرزا قـابل بیـا خـرو تـه ورغـی، پـس پس یې ورسره وکړ او بیا یـې کلیوالـو تـه وویـل:

- خـره وایـي چـې مـوږ پـربږدئ چـې د کلـي پـه پولـو او ویـالو او شـنو چمنـو کـې وځرو، ځکـه چـې پـه غـره کـې نـه شـنه واښه شـته او نـه اوبـه، دغـه د خـرو وروسـتی غوښتنې دي.

ټولـو کلیوالـو فیصلـه وکـړه چـې خـره دې پـه کلـي کـې پـربښودل شـي چې وځري، تـا تـه دې خدای برکـت درکـړي هغـه وو چـې مـیرزا قـابل لـه یـوه کلیـوال نـه لښنـه واخیسـتله، اوټول خـره یـې پـه غـوږو غـوږو ووهـل خـره هـم بـې لـه کـوم تکلیـف او بغاوتـه پـاځېدل او د کلـي مخـه یـې ونیولـه.

پـه سـبا هـر چـا د خپـل خـره اوسـارونه او پـړې لـه غـارو او پښـو نـه خلاص کړل او کلي کې یـې خـره ازاد خوشـي ګړل.

خو میاشت یې نه وه پوره کړې چې مازیګر به د هر چا خر بې لکۍ کور ته را روان و، او لکۍ به یې ورته چا پرې کړې وه، د لس دولسو ورځو په موده کې د کلي ټول خره لنډې او بې لکۍ شول، هر مابنام به د خره خاوندان دخپلو خرو د لکیو په باره کې غږېدل چې چا یې لکۍ غوڅه کړې؟ خو هېچا نه ویل چې د پلاني د خره لکۍ ما پرې کړې ده. ګیلې مانې او تاوتریخوالی په کلي کې زیات شو، او ټوه په بل پړه اچوله، اخر انار ګل په غوسه وویل:

- زما څلور پټیه جوار دې خرو وخوړل، خود به یې لکۍ پرې کېږي.

. یو بل کلیوال هم دا خبره تایید کړه او ویې ویل:

- ملا مې په میو کرلو کړوپه شوه چې سم په حاصل شوې خرو راته پوښنا کړې، دا انصاف دی؟ د دې خرو لکۍ څه چې باید غوږونه یې هم غوڅ شي.

بل کلیوال چې دپښو په سر په قار ناست و، د خرو خاوندانو ته یې وویل: د ګل شیر نیم جریب څمکه مې په اجاره واخیسته، هندوانې مې پکې وکرلې چې دا به ورسېږي، و به یې پلورم او ځانته به پکې کپه لپه برابره کړم، خو ستاسې دخرو خوراک شو، قسم په ولادي که دا ځل د هر چا خر مې پکې ولیده دا خو یې لکۍ ده چې سپږمې خو یې ورته غوڅې کړم.

د کلي بادراکا چې ټولو کلیوالو او فصل دارانو ګیلې مانې واورېدلې په نصیحت یې ووایه.

- تاسې ټول ربښتاي وایې! د خرو ازادي به هم خره تبا کړي او هم کلی که خره همداسې ازاد پرېږدو فصلونه به تباه کړي او کلی به له قحطۍ سره مخامخ شي او موږ به قحطي تباه کړي، نو تاسې باید د پخوا په شان خرو ته د خرو په سترګه وګورئ نه د سړیو. ازادي له سړیو سره خوند کوي نه له خرو سره.

ما هم ویل چې زړور یم

ځینې نارینه چې د خپلې تور سرې او مېرمنې تر څنګ کښې، نو د ځان صفت او د بل غیبت راواخلي او دومره لاپې شاپې به وهي چې نه یې حد مالوم وي او نه حدود.

د دغو لاپوکو او بوس بادوونکیو څخه ما هم وشمېري، څه وکم؟ زړه مې طاقت نه کوي چې د ورځې دوه دوه یا دري دري ځلې لاپې خپلې مېرمنې ته و نه وهم، که د قوت خبره شي ځان د رستم نه دري ګامه وړاندې بوځلم، که د حکمت خبره شي که د لقمان حکیم برابری و نه کم، نو شاګرد خو یې ضرور ځان بولم که خبره په زړورتیا کې یاده شي بیا نو زه د ځان جوګ او اندول نه وینم، ما په ډېرو لاپو دربو دروب او ډېرو سوګندو یادولو سره په خپلې مېرمنې دا منلې ده، چې زه یو زړور سړی یم او په لاره کې چې څم کوځه وال خو پرېږده د کلي مچان او مېړیان هم را نه تښتي.

زما مېرمن بېچاره ډېره ساده مېرمن ده. هغې هم زما په ټولو خبرو باور وکړ او زړه ته یې ولوېده چې زه رښتیا زړور یم، نو هماغه وو چې مېرمن ته مې دې خدای خیر او برکت ورکړي، په ما یې زړور تخلص کښښود. زما اصل نوم خاوري کچکول خان دی او تخلص مې شو ((زړور))، کله چې په زما مېرمنې مات ته غږ وکړ چې:

- آ، کچکول خان زړوره! تا ته وایم!
- (سرسرې) ما ته وایي؟ څه وایي؟
- ویل خو مې دا چې تېره هفته چې د مور مړۍ وه، زما د مور سلام ته ورغلی وې؟
- (په لاپو) ته هم عجیبه خبرې کوې، زه نو دومره بې زړه سړی یم، چې دخوابنې سلام ته ورشم؟ هغه باید زما سلام ته راشي، ته پوهېږې چې زما نوم څه شی دی؟ یانې کچکو خان زړور.
- (په عذر) خیر... خیر... زه.
تاسې باور وکړئ چې زما مېرمن به زما تخلص اخیست یانې "زړور" به یې زما له نامه سره زیات کړ. لـه خوښۍ، غرور او کلنکارۍ نه په جامو کې نه ځایېدم، که تاسې ما له نژدې نه وګورئ، یو موټی سړی یم، لاسونه مې د بزګرانو شاخۍ غوندې وچ وچ دي، پښې مې هم د نانوایي لـه سیخانو نه غټې نه دي. په لاره چې ځم، د ډېرو کسانو زړونه دربېږئ چې زه و نه لوېږم هسې د خدای په کرامت روان یم، کومه ورځ چې تونـد او زورو باد شي، یا زه ځان په ونې پورې تینګ وتښلوم، او یا ځان کوټه کولپي کوم.. خو لـه دومره کمزورۍ او کم قوتۍ سره بیا هم چې زما مېرمنې هره ورځ ما ته د ګل سلام زړور په نامه غږ کاوه، نو وچې کلنکارۍ او غرور دومره لېونۍ کړم، چې ځان ربنتیا هم راته یو قوی او زړور سړی ښکارېده. خصوصاً چې سروپس ته به ختلم، یا به مې سینما کې ټکټ اخیست، نورو کسانو به حق اولیت ماته راکوه، نو ما به فکر کاوه چې الکه ربنتیا لکه چې ډېر زړور او قوي یې، ځکه ځینې کسان درنه وېرېږي، نه ګوري چې له خپل ځانه هم تا ته وړومبۍ نوبت درکوي.
زه څه پوهېدم چې د هغو زړه زما په کمزورۍ او بې غوښو وجود باندې خوږېږي، خیر اصلي خبرې رانه هېره شوه.
رایاده شوه، ما ویل چې زه د (زړور) تخلص دومره مغرور کړی وم چې کلـه به مې زړه تـه راغلـل چې د کوټې دېوال په یو سوک هم غورځولی شم. یوه ورځ مې غوښتل چې خپله زړوتیا او قوت مالوم

او وازمایم، نو کوڅو ته ووتم، چې چا سره جنګ وکم، تر څو زما قوت او زړورتیا ثبوت ته ورسېږي او دا الجبریکه مسئله حل شي.
څه سر به دې خوږوم، په کوڅه کې ګرځېدم، رنګه رنګه زلمیان اوتندرست کسان مې لیدل، خو زما په یوه هم سترګه نه ډکېده او نه مې سترګه ورنه سوزېده. اخر مې یو زلمی ولید چې تقریباً دوه متره او څلوېښت سانتي یې قد و، خپټه یې له سر نه دمخه روانه وه او متې یې زما له غاړې نه هم غټې وې، ما له ځان سره وویل:
- کې جنګېږې کچکول خان زړوره، نو له دې بلا سره دې زړورتیا او زور مالوم کې. هغه وو چې کرار کرار ورپسې ورغلم.
له ځان سره ګډ وم چې باید داسې خبره ورته وکم،چې حریف په قار شي او ما سره ونښلي، چې څو قدمه ورغلم ورته مې وویل:
- چار تراشه تاته وایم؟
- هغه لکه زمری وغړمېده: راته یې وویل:
- چا ته وایې؟ وړاندې راشه!
- (په لاپو) خود وړاندې درځم، ته فکر کوې چې زه درنه وېرېږم؟
- ته پوهېږې چې زه کچکول زړور یم، او چې زړور یم نو زړور یم.
سړی ډېر جګ و او زه ډېر ټیټ، ما داسې ورته کتل لکه چې په دوه منزله کې کوم سړی ته خبرې کوم... سړی چې هم ډېر لوړ و، زما کمزوری اواز یې لږ لږ غوږو ته ورته، نو یې له دواړو وزرو او قولونو ونیولم او نېغ یې د یو دکان تختې باندې ودرولم او بیا یې راته وویل:
- (په ډډ اواز) څه دې ویل؟ اوس ووایه!
د سړي دې قوت ته اریان پاتې شوم، ما ویل راځه تښته، خو بیا وچ غرورمې په ککره کې ځای ونیو، ما ویل چې:
کچکول خان زړوره! تښته خو د بې زړوکسانو کار دی، نو ما هم وچ لاسونه په وچو ډوډو ونیول او لکه د فلم د اکټرانو په شان مې شوندې اوږدې کړې، بیا مې ورته په لاپو وویل:
- ما ویل چې چارتراشه، چېرته روان یې؟

- (په غريو) ما ته چارتراش وايې؟ کلک شه!
د سړي په يوه څپېړه لکه د پوقاني غوندې توپ د دکان تر بام پورې جګ شوم او بيا د دکان په ټوکريو باندې پر مخې ولوېدم، خوله مې د سنځلو په ټوکرۍ کې ننوته، له ډېر شدته مې نيمه ټوکرۍ سنځلې په خولې اوستونې کې ننوتې، زما او د مرګ څه نه و پاتې، نژدې و چې د سنځلو له لاسه مې نفس ووځي، خو دکاندار او زما حريف ته دې بيا هم خدای خير ورکړي، زه يې په امبولانس کې واچولم او روغتون ته يې ورسولم، يوه هفته، ايله زه په خود شوم، کله چې کور ته لاړم، مېرمن مې راته وويل:
- کچکول سلام زړوره! چېرته تللی وې؟ دا رنګ دې ولې زېړ دی، مخ کې دې شينوالی ليدل کېږي.
په وار خطايې مې ورته وويل: اوه، هېڅ، تېره هفته د پهلوانۍ لوبه وه، ته پوهېږې؟
- (په لاپو) څلور پهلوانان يې ماته خوشې کړل، زه يوازې او هغوی څلور تنه، اخر چې مې دا زور کړ، نو څلور واړه مې د انګک بنګک او کلولو سنګک غوندې په ځمکه ووېشتل، خو د يوه پښه زما په دا مخ ولګېده داسې شوم.
ښځه بېچاره بيا هم ساده وه او زما خبره يې ومنله، او لازياته رانه وېرېده، چې ګوندې سړی رښتيا هم باتورانو باتور دی.
بله شپه تصادفاً زمور کور ته غل راغی او غل ځوانيمرګ نېغ هغې کوټې ته راغی چې زه پکې وم. زه او تور سړي مې بې ادبي دې معاف وي په يوه کوټه کې وو. کډې مې چې د کوټې د دروازې (غنګ) واوربده، زه يې ورو څه کړم، ورو يې راته په وېره وويل چې:
- غل دی، سړيه!
زه خو پوه شوم چې غل دی، نو ما بېچاره بې وسلې سړی به د نيمې شپې له غله سره څه کړي وای؟ له وېرې مې بدن خولې خولې شو. ما ويل الکه ميرزا کچکوله کله غل پاتې شي ولاچې ښځې ته کمزوری،

بزدلـه او دارن مـالومبړي نـو راځه ځوان مـه شـرموه، نـو مـڼې ښځې تـه وويـل:

- چوپ شـه بـې عقلـې! غـل څه بـلا غـواړي؟ دا مـې مامـا دی، تـا نـه دی لیدلی، مـا ورتـه وویـل چې راشـه زمـوږ کـالي یوسـه او بیبـا مـې پـه زوره غله تـه غـږ کړ:

- مـا ماجانـه! واخلـه، هـر څه چې دې په کـار وي د نـر غونـدې یـې یوسـه.

هغـه وو چې زه بیـا هـم غـرور او بـې ځایـه تکـبر دومـره پرسـولې وم چـې خپـل ټول کـور مـې په غلـه بـاندې چـور کـړ او سـم د تـورې شـپې غـل مـې د ځان سـکه مامـا وبالـه. بـټره خـبره لا دا وه چـې لـه کلانکـارۍ او خـود خواهی نه مې پولیسو ته هم خبر ور نه کړ، ځکه چې دا کـار مـې هـم د ځان کسرشـان بالـه. ښځې بـېچـاره مـې هـره ورځ د کـور د کـالیو پوښتنـه کـوې او زه ورتـه وایـم چـې:

مامـا حـق دار دی، ښه ده چـې پـه هغـه شـپه یـې زه او تـه هـم نـه یـو بیولي. غـل زمـوږ لـه مـال سـره یـو ځای اړه، خـو زه پـه دې پـوه شـوم چـې لـه چړګه جنګي ګډې نـه شـي جـوړېدای.

PROPERTY OF ACKU 8654

PROPERTY OF ARIC Established 1989

منان ملګری ډرامې سرایستلی لیکوال دی. فطرت یې ډرامې له هنرنه ډک دی. ډیره ساده موضوع را واخلي خو ډراماتیک هنرله برکته یې دناوې غوندې سینګارکړي. خدای له اوښکو ډک زړه ورکړی ،خوخوله یې تل له خنداویړه وي. دلفظونودخندولوچل ښه ورځي. لفظونه پټ پټ وتخنوي اودماشومانوپه شان یې کټ کټ وخندوي.

داسې هم نه ده چې ګني دده طنزیه لیکنې تشه خنداده. ددې ماشومې خنداشاته ستړي ناخوالې اودردونه هم شته چې مونږاوتاسې ورسره لاس اوګریوان یو. شریک بالاپوش یې دځینوخورو وروطنزونومجموعه ده چې دژوندواورینوشیبوته په زړه پورې تودوخه وربخښي. منان ملګري درادیو ،تلویزیون اوستیج لپاره بې شماره ډرامې ،نمایشنامې اوهنري پارچې لیکلې دي. نن سباد «بي بي سي »د «نوي کور ،نوي ژوند »دروانې ډرامې سرلیکوال دی. په دې سلسله کې یې تراوسه څه باندې څلورزره صحنې څه پخپله لیکلې اوڅه هم دده ترلارښوونې لاندې لیکل شوې اوخپرې شوې دي. ځکه خوویلای شوچې منان ملګری دپښتوډرامې دملاتیردی. مونږدمنان ملګري دطنزونودامجموعه «شریک بالاپوش »دپښتوطنزلپاره یوبختورپال بولو.

ګران لوستونکي دې په شریکه د «شریک بالاپوش »مبارکي ومني. منان ملګری دې تردیره ژوندی وي آمین.

په ډیره مینه ،په ډیرادب

کاروان ، ۱۹۹۹-۳-۱۶ پېښور



عبد المنان ملکری

چاپ: دانش کتابخانه، قصه‌خوانی بازار- پیښور
تیلفون: 2564513